# د روژې بزرګان!


ليکوال : ډاکټر محمد بن
عبدالرحمن العريفي

ژباړن : اجمل هېوادمل


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library


# بسم الله الرحمن الرحیم!

ketabton.com - The Digital Library



د هغه خدای ستاینه کوم چې پر خپلو بندګانو یې روژه فرض کړه او هغه یې د باطن د پاکوالي او د ګناهونو د رژولو ذریعه وګرځوله...

د هغه ذات ثنا وایم چې میاشتې، کلونه، ساعتونه او ورځې یې پیدا کړې او ځینو ته یې پر ځینو نورو غوره والی ورکړ... «او ستاسو رب چې څه وغواړي پیدا کوي یې او چې څه وغواړي غوره کوي یې» [القصص: ۶۸]...

د هغه پاک، بې عیبه، علیم او خبیر ذات ستاینه کوم... چې د بندګانو پر اعمالو خبر دی او خپل تقدیرونه پر هغوی جاري کوي...

هیڅ شی په اسمانونو او ځمکه کې هغه نه شي عاجزولی او هغه پر هر څه برلاسی دی...

واکمني یې په اسمانونو کې، عظمت یې په ځمکه کې او قدرت یې په سینډونو کې ښکاره دی...

بندګان یې په خپل علم پیدا کړل، تقدیرونه یې ورته وټاکل او د ژوند موده (اجل) یې ورته معلوم کړ...

هغوی یې پیدا کړل، په شمار یې راوستل، ټول اعمال یې ورته ولیکل او هیڅوک یې خوشې نه کړل...

او درود او سلام وایم پر هغه غوره انسان چې لمونځ یې وکړ، روژه یې ونیوله، په مشاعرو کې ودرېد او د کعبې طواف یې وکړ... د الله تعالی درود، سلام او برکتونه دې وي پر هغه، تر هغه چې یادوونکي یې په نېکو اعمالو سره یادوي او تر هغه چې شپه او ورځ یو بل پسې راځي...

له الله تعالی ښخه غواړو چې موږ د هغه (ص) د امت له غوره خلکو ښخه وګرځوي او د قیامت په ورځ مو د هغه په ډله کې حشر کړي...

* * *

ketabton.com - The Digital Library



# اې روژتيانو!

ننني شپه بيګانۍ هغې ته ځومره ورته ده! دا ورځې دومره په تېزۍ تېرېږي چې ګواکې يوازې ځو شېبې وي...
تېر رمضان ته په هرکلي ورغلو او بيا مو رخصت کړه... خو دا مياشتې داسې تېرې شوې چې ګواکې يوازې ځو ساعتونه وو... او اوس بيا د بل رمضان هرکلي ته ولاړ يو!
ځومره داسې کسان مو پېژندل چې کلونه کلونه يې له موږ سره يوځای د رمضان هرکلی کاوه، خو نن په قبرونو کې پراته دي او د قيامت انتظار باسي...
او ښايي دا رمضان زموږ له ډلې د ځينو لپاره د ژوند وروستی رمضان وي...
دا چې رمضان ته ورسېدو، دا يو رباني نعمت او الهي لورينه ده...
دا هغه زېری دی چې سترګو ورته اوښکې تويې کړې دي:
﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ﴾ [البقرة: ١٨٥].
«د روژې مياشت [هغه مياشت] ده چې قرآن پکې نازل شوی؛ [هغه کتاب] چې خلکو ته سمه لاره ښوونکی او د هدايت ځرګندې نښې او د حق او باطل ترمنځ بېلوونکی دی...».
نسائي او بيهقي په صحيح سند سره له رسول الله ﷺ څخه روايت کړی چې ويې فرمايل:
«تاسو ته يوه مبارکه مياشت راغلې چې الله تعالی يې روژه پر تاسو فرض کړې ده. په دې مياشت کې د جنت دروازې پرانستل کېږي، د دوزخ دروازې تړل کېږي او شيطانان په زولنو تړل کېږي. په دې مياشت کې يوه داسې شپه ده چې تر زرو مياشتو غوره ده؛ ځوک چې د هغې له خير څخه بې برخې شو، [په رښتيا چې] هغه بې برخې (محروم) دی»...
او په صحيحينو (بخاري او مسلم) کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «کله چې روژه داخل شي، د رحمت دروازې پرانستل کېږي، د دوزخ دروازې تړل کېږي، شيطانان په زنځيرونو تړل کېږي او د جنت دروازې خلاصېږي»...

*   *   *

ketabton.com - The Digital Library



هو! څومره زړونه وو چې د دې شپږو د رارسېدو هيله يې لرله... هغه مياشت چې نېکۍ پکې څو چنده کېږي او بدۍ پکې ښنل کېږي... هغه مياشت چې لغزشونه پکې جبيره کېږي او درجې پکې لوړېږي... د جنت دروازې پکې پرانستل کېږي، د اور دروازې پکې تړل کېږي او شيطانان پکې بندي کېږي...

هغه مياشت چې لوی اعمال او عظيم اجرونه پکې نغښتي دي... ترمذي او نورو روايت کړی چې پيامبر اکرم ﷺ وفرمايل: «کله چې د رمضان لومړۍ شپه شي، شيطانان او سرکښه پيريان په زنځيرونو تړل کېږي، د دوزخ دروازې تړل کېږي او هيڅ دروازه يې خلاصه نه پرېښودل کېږي؛ د جنت دروازې خلاصېږي او هيڅ دروازه يې نه تړل کېږي؛ يو غږ کوونکی غږ کوي: اې د نېکۍ غوښتونکيه! مخکې راشه، او اې د بدۍ غوښتونکيه! لاس واخله (لنډه يې کړه)، او الله تعالی په دې مياشت کې ځينې کسان له اوره ازادوي او دا کار د روژې په هره شپه کې تکرارېږي»...

روژه د خير، برکت، فتحو او برياوو مياشت ده... تاريخ د بدر او حِطين غزاوې، او د مکې او اندلس فتحې يوازې په روژه کې يادوي... صالحانو رمضان ته رسېدل يو له سترو نعمتونو څخه ګڼل... معلی بن فضل وايي: «سلفو به شپږ مياشتې دا دعا کوله چې الله تعالی دوی رمضان ته ورسوي!»

يحيی بن ابي کثير وايي: د هغوی يوه دعا دا وه: «ای الله! ما تر رمضانه روغ رمټ وساته، او رمضان ماته راورسوه، او هغه له ما څخه په مقبوليت سره تسليم کړه...» دا د هغوی حال و... روژه به په داسې حال کې راغله چې دوی به يې لارې څارلې... په لمونځ، روژه، صدقه او قيام سره به يې ځانونه روژې ته چمتو کول... خپلې شپې به يې د رمضان لپاره ويښې تېرولې او ورځې به يې روژې نيولې... ځکه دا مياشت يوازې څو محدودې ورځې دي، نو ځکه به يې غنيمت ګڼله... که به دې د هغوی حال ته وکتل، يا به دې په ژړا ليدل، يا په قيام کې، يا په سجده او دعا کې...

ketabton.com - The Digital Library



روژه به راغله او هغوی به داسې وو:
﴿تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ١٦ فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٧﴾ [السجدة: ۱۶-۱۷].
«د هغوی ډډې له بسترونو څخه جلا کيږي، خپل رب د وېرې او امید له مخې بولي او له هغه څه چې موږ ورته روزي ورکړې، انفاق کوي. نو هيڅوک نه پوهېږي چې د هغوی د نېکو اعمالو په بدل کې د هغوی د سترګو د يخنی لپاره څه شی ورته پټ ساتل شوي دي».
رباني اوسئ... نه رمضاني...
رباني خلک په رمضان او له رمضان پرته نورو مياشتو کې هم روژه نيوونکي او د شپې وينښ پاتې کېدونکي وي.
يو صالح سړي له يو چا څخه يوه وينځه واخيسته... کله چې روژه راغله، نوي مالک يې د دې مياشتې لپاره د ډول ډول خوړو په اخيستلو چمتووالی نيوه... وينځې ورته وويل: دا څه کوئ؟
هغه وويل: د رمضان د روژې هرکلي ته چمتووالی نيسم!
وينځې وويل: «ايا تاسو يوازې په رمضان کې روژه نيسئ؟! په الله قسم زه د داسې خلکو له خوا راغلې يم چې ټول کال يې رمضان وي... زه ستاسو ملګرتيا ته اړتيا نه لرم! ما بېرته هغوی ته ورولېږئ...» او هغوی هغه بېرته خپل پخواني مالک ته وسپارله.

* * *

هغوی د روژې د فرضيت په حکمت پوهېدل...
پوهېدل چې روژه بې سببه او بې ځايه نه ده فرض شوې...
هو... خبره يوازې د خوراک او څښاک د پرېښودلو نه ده...
مسئله له دې ډېره لويه ده... روژه ځکه فرض شوه چې انسان وپوهېږي هغه يو پالونکی (رب) لري؛ چې هر وخت يې وغوښتل روژه فرضوي او چې کله يې وغوښتل خوړل

ketabton.com - The Digital Library



حلالوي! هر حکم چې وغواړي صادروي يې او هر څه چې وغواړي غوره کوي يې... او په دې ډول د هغه تقوا او وېره خپله کړي...
﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣﴾ [البقرة: ١٨٣].

«اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! پر تاسو روژه فرض شوې، لکه څنګه چې له تاسو څخه پر وړاندينيو امتونو فرض شوې وه، ترڅو تاسو تقوا لرونکي شئ».
هو... ترڅو تقوا لرونکي شئ...
او تقوا يعنې تل له الله تعالی څخه وېره لرل...
ګناهونه پرېږده، که واړه وي که لويه، تقوا همدا ده؛
او داسې لار وهه لکه هغه څوک چې د اغزيو په ډکه ځمکه روان وي...
هيڅ وړه ګناه سپکه مه ګڼه... ځکه غرونه له وړو شګو جوړ شوي دي!
تقوا يعنې له جليل (الله) څخه وېره، په تنزيل (قرآن) عمل کول، په لږو قناعت کول او د سفر (اخرت) ورځې لپاره چمتووالی نيول...
هر څوک چې تقوا پلي کړي، دا احساس کوي چې ټول ژوند يې د الله تعالی لپاره دی... هغه چې هر څه وغواړي ورسره يې کوي... د لمانځه په وخت لمونځ کوي، د روژې په وخت روژه نيسي... د جهاد په وخت جهاد کوي او له صدقه ورکوونکو سره صدقه ورکوي...
نفس يې په دې ژوند کې خپله برخه نه لټوي، بلکې ټول يې الله تعالی ته وقف کړی وي...

*  *  *

جعفر بن ابي طالب (رض):
جعفر بن ابي طالب، د رسول الله ﷺ د تره زوی او د علي بن ابي طالب ورور و... هغه او مېرمنې يې اسماء ډېر وختي اسلام راوړی و. کله چې هغه لا ۲۱ کلن و، په مکه کې يې بې کچې تکليفونه وګالل...
نو ځکه رسول الله ﷺ هغوی ته اجازه ورکړه چې حبشې ته هجرت وکړي...

ketabton.com - The Digital Library



جعفر او مېرمن يې حبشې ته لاړل... يوې لرې او ناآشنا خاورې ته... هغه لاړ، په داسې حال کې چې په خپله قوم کې عزتمند و... داسې يوې ځمکې ته چې هلته مساپر و...

يوې داسې ځمکې ته چې نه يې پېژندله... داسې خلکو ته چې بلد ورسره نه و... او يوې داسې ژبې ته چې نه پرې پوهېده...

درې کاله په حبشه کې پاتې شو... بيا اوازه شوه چې قريشو اسلام راوړی دی؛ نو له خپلې مېرمنې او ماشومانو سره بېرته راستون شو... خو ويې ليدل چې قريش لا هم پر خپل کفر پاتې دي... رسول الله ﷺ بيا هغوی حبشې ته ولېږل... حبشې ته لاړ او اووه کاله نور هلته پاتې شو...

کله چې رسول الله ﷺ خيبر فتحه کړ، حبشې ته يې استازی ولېږه چې مسلمانان مدينې ته راشي... کله چې هغوی مدينې ته راغلل، رسول الله ﷺ ډېر زيات خوشحاله شو. وايي چې کله يې جعفر وليد، د هغه د دوو سترګو ترمنځ يې مچ کړ، غېږه کې يې ونيو او ويې فرمايل: «نه پوهېږم چې پر کوم يوه ډېر خوشحاله شم: د خيبر پر فتحه که د جعفر پر راتګ!»...

جعفر له رسول الله ﷺ سره ډېر زيات ورته والی درلود، تر دې چې رسول الله ﷺ ورته فرمايل: «ته په صورت او اخلاقو کې ما ته ورته يې»...

لا جعفر په مدينه کې سم نه و مېشت شوی چې رسول الله ﷺ ته خبر ورسېد چې روميان د مسلمانانو پر ضد لښکرې چمتو کوي...

رسول الله ﷺ هم د روميانو د مقابلې لپاره په «موته» کې لښکر چمتو کړ، زيد بن حارثه يې د هغوی امير وټاکه او ويې فرمايل:

«که زيد ووژل شو، نو جعفر د خلکو امير دی، او که جعفر ووژل شو، نو عبدالله بن رواحه امير دی»...

هغوی درې زره کسان وو...

بيا رسول الله ﷺ له هغوی سره مخه ښه وکړه...

مسلمانان موته ته ورسېدل او ناڅاپه يې يو لک (۱۰۰،۰۰۰) رومي عسکر په وړاندې وليدل...

ketabton.com - The Digital Library



جګړه پیل شوه... زید بیرغ په لاس کې واخیست... او شهید شو... بیا جعفر بیرغ په ښي لاس کې واخیست او وجنګېدلو... کله چې جګړه سخته شوه، ځان یې له اسه راوغورځاوه او دا شعر یې وایه:

«څومره خوندور ده جنت او هغه ته نږدې کېدل، هغه پاک ده او اوبه یې سړې دي؛
خو رومیانو ته عذاب نږدې دی، هغوی کافران دي او نسبونه یې لرې دي؛
پر ما لازمه ده چې کله ورسره مخ شم، توره پرې وباسم...»

هغه همداسې په توره وهل کول او بیرغ یې په ښي لاس کې و... ناڅاپه یوه رومي د هغه ښی لاس پرې کړ... توره یې په چپ لاس کې واخیسته... هغه یې هم پرې کړ... بیا یې بیرغ د خپلو دواړو مټو ترمنځ ونیو ترڅو شهید شو... په داسې حال کې چې عمر یې له ۳۰ کلونو ډېر نه و...

عبدالله بن عمر (رض) وایي: جعفر مې ولید چې شهید شوی و او په بدن کې یې تر ۹۰ ډېرې د تورې، نېزې او غشو نښې وې... په الله قسم چې یوه نښه یې هم پر شا نه وه (ټولې یې پر مخ او سینه وې)...

بیا عبدالله بن رواحه بیرغ پورته کړ تر هغه چې شهید شو...

بیا خالد بن ولید بیرغ واخیست او لښکر یې په مهارت سره په شا کړ (او ویې ژغوره)...

دا د «موته» د غزا د مجاهدینو کیسه وه...

د مدینې منورې کیسه انس (رض) روایت کوي او وایي:

رسول الله ﷺ راووت، پر منبر باندې کېناست او ویې فرمایل: «ایا تاسو د خپل جنګیالي لښکر له خبرونو خبر نه کړم؟»...

موږ عرض وکړ: هو، یا رسول الله!

ویې فرمایل: «بیرغ زید پورته کړ، بیا هغه شهید شو... د هغه لپاره مغفرت وغواړئ»...

خلکو وویل: اې الله! هغه وبښه او رحم پرې وکړه...

ویې فرمایل: «بیا بیرغ جعفر پورته کړ، هغه هم شهید شو... د هغه لپاره بښنه وغواړئ»...

خلکو وویل: اې الله! هغه وبښه او رحم پرې وکړه...

ویې فرمایل: «بیا عبدالله بن رواحه بیرغ پورته کړ... هغه هم شهید شو... د هغه لپاره بښنه

ketabton.com - The Digital Library



وغواړئ»...
خلکو وويل: اې الله! هغه وبښه او رحم پرې وکړه...
بيا رسول الله ﷺ وژړل او له منبر څخه راکوز شو...
بيا د جعفر (رض) کور ته لاړ...
د جعفر ميرمن، اسماء بنت عميس (رض) وايي: ما خپل ماشومان وينځلي وو، سرونه مې ورته غوړ کړي وو او اوړه مې هم اخښلي وو او د جعفر انتظار مې کاوه، چې رسول الله ﷺ راننوت او ويې فرمايل: «زما د ورور زامن راوغواړئ چې راشي»...
اسماء وايي: ما هغوی راوستل، هغوی د مرغيو د بچيو په څېر وو...
کله چې هغوی رسول الله ﷺ وليد، ور منډې يې کړې، په هغه پورې ونښتل او د هغه مچول يې پيل کړل... هغوی داسې ګڼله چې دا يې پلار جعفر دی...
رسول الله ﷺ د هغوی پر سرونو لاس کاږه او ژړل يې... نوازش يې کول او اوښکې يې تويولې...
هغوی بيا هم داسې ګڼله چې دا يې خپل پلار دی...
اسماء وويل: اې د الله رسوله! ايا د جعفر په اړه څه خبر شته؟
رسول الله ﷺ هيڅ ونه ويل...
هغې بيا پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! ايا د جعفر په اړه دې څه خبر اورېدلی؟
ويې فرمايل: «جعفر شهيد شو...»
اسماء وويل: ماشومان يې يتيمان شول... ماشومان يې يتيمان شول!
ويې فرمايل: «ايا د هغوی په اړه له بېوزلۍ وېرېږې؟ په الله قسم، زه په دنيا او اخرت کې د هغوی ولي (ساتونکی) يم.»
بيا له هغه ځايه په داسې حال کې ووت چې فرمايل يې: «ژړونکي دې د جعفر په څېر چا باندې وژاړي».
بيا خپلې کورنۍ ته لاړ او ويې فرمايل: «د جعفر د کورنۍ لپاره خواړه پاخه کړئ، ځکه پر هغوی داسې څه راغلي چې هغوی يې په خپل ځان بوخت کړي دي.»
هو! جعفر شهيد شو او خپله کورنۍ او مال يې پرېښودل...

خو په بدل کې یې هغه جنت ته داخل شو چې سوروروالی (پنډوالی) یې د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی...

* * *

دا د تقوا حقیقت دی... یعنې په ټول وجود سره د الله تعالی اطاعت کول.
خو ایا هغه څوک متقي دی چې نس یې له خوراکه روژه وي، خو سترګې یې له حرامو، غوږونه یې له ګناه او ژبه یې له بدو ویلو روژه نه وي؟
ایا هغه څوک متقي دی چې په ورځ کې اجرونه ټولوي او په شپه کې دا ټول اجرونه په مبتذلو سندرو او ګناه لړلو نڅاوو اور ته اچوي؟
او د انس شیطانان دا ټول ګناهونه د هغه په وړاندې ښکلي انځوروي!
هو! د انس شیطانان! د جناتو شیطانان په زنځیرونو تړل شوي دي، خو د هغوی د جبران لپاره د انس شیطانانو خپل فعالیت پیل کړی دی!
تر دې چې د انس شیطانانو یوازې د روژتیانو پر شپو بسنه نه ده کړې، بلکې د هغوی ورځې یې هم اشغال کړې دي؛ کار تر دې ځایه رسېدلی چې ډېر روژتیان خپله ورځ او شپه د تلویزیونونو مخې ته تېروي او له روژې څخه یې یوازې پر نه خوړلو بسنه کړې ده، او داسې احساس نه کوي چې ګناه کوي...
عجیبه ده... ایا زموږ څخه به څوک داسې وي چې د نامحرمې ښځې کتل ورته حرام نه ښکاري؟
یا د سندرو او موسیقۍ د الاتو حرمت؟
یا جادوګرۍ ته د کتلو حرمت؟
خلکو ته داسې پروګرامونه ښکاره کوي، چې که دقت وکړې نو وبه وینې چې د هغو تولیدوونکي او لیکوال نه متقي عالمان دي او نه هم زړه سواندي مصلحان... بلکې ډېری یې فاسقان، د شرابو او شهوتونو مئینان دي چې د الله او رسول پر وړاندې جنګ ته وتلي او یوازې د پیسو په فکر کې دي...

* * *

ځینې خلک دومره بې حسه شوي دي چې په ډېرې اسانۍ هغه سړي ته ګوري چې یوه ځوانه

ketabton.com - The Digital Library



نجلۍ يې په غېږ کې نيولې، ځکه چې مثلاً د هغې د پلار رول لوبوي! يا شپه د يوې ښځې په غېږ کې ويده وي، ځکه چې د هغې د مېړه رول لوبوي!
زموږ کار تر دې ځايه رسېدلی چې له دې مسايلو په ډېرې اسانۍ تېرېږو...
د بې حجابه ښځو ليدل نه منعه کوو...
د شرابو څښلو، سګرټو، غلاء، قتل او فحاشۍ د صحنو ليدلو باندې عادت شوي يو... دا ټول مو منلي دي، په دې پلمه چې دا يوازې تمثيل او لوبه ده...
خو دا پروګرامونه کومه تقوا پياوړې کوي؟ په الله قسم، دا هغه لږ پاتې ايمان هم له منځه وړي... او هدف يې همدا دی چې هغه لږ تقوا هم له زړونو څخه وباسي...
اې روژتيانو! نارينه وو او ښځو!
ايا دا د رمضان مياشتې سره ښايي؟ ايا دا د نېکيو او رحمتونو د مياشتې حق دی؟
سبحان الله! چيرته دي د رمضان هغه شپې چې د سحر تر وخته به په ذکر او استغفار تېرېدې؟
يو به په خاشعانه سجده کې و او بل په خاضعانه قيام کې... د ځينو د ژړا غږ به داسې و لکه له سينه څخه چې يې د ديګ د جوشېدو غږ راځي؟
ټول په ارامۍ او سکوت کې... او رحمتونه چې پرې پرله پسې ورېدل او الله تعالی چې د ملائکو په وړاندې پر هغوی وياړ (مباهات) کاوه...
خو تلويزيون راغی او هغه فضا يې په فلمونو، سريالونو، کُشتۍ او فوټبال باندې بدله کړه...

خو تر ټولو بده دا ده چې خلک په روژه کې د هغو شيانو په واسطه غولوي چې دوی ورته «ديني سريالونه» وايي...
په شعبان مياشت کې ښاغلی هنرمند په يوې بد اخلاقي او ناوړه ډرامه کې رول لوبوي... خپله ملګرې (دوست دختر) ښکلوي... شراب څښي...
خو همدا ښاغلی بيا د روژې په مياشت کې د ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) رول لوبوي! او ملګرې يې بيا د عايشې او خديجې (رضی الله عنهما) رولونه ادا کوي! دا څومره عجيبه ده...
خو موږ دوی نه ملامتوو، ځکه له هغو مو هيلې غوښې کړې دي...

ketabton.com - The Digital Library



موږ پر هغو هوښیارو مؤمنانو نیوکه کوو چې داسې ځانونه احمق کړي او پرته له کوم انکار او اعتراض څخه دا ډول فلمونه ګوري. اوس نو څوک شته چې د انس دا شیطانان په زولنو وتړي؟!

هغه کسان چې نه د رمضان حرمت ساتي او نه د خپلو مسلمانو وروڼو او خویندو خیال ساتي... او په پوره سپین سترګۍ او پستۍ سره د ګناه اسباب چمتو کوي! فلانی سندرغاړی د رمضان په مناسبت کنسرت نیسي! او فلانې ډله د رمضان په ویاړ مبتذل تمثیل او ډرامه وړاندې کوي! د داسې څېړو دې مخونه تور وي... څومره ګستاخ دي چې د الله تعالی حدود او حرمتونه تر پښو لاندې کوي.

* * *

ایا دا مفسدان نه پوهیږي چې دوی په داسې ستر نعمت کې دي چې که خپله شپه او ورځ په روژه او لمانځه هم سره ونښلوي، بیا هم د دې نعمت د لسمې برخې شکر نشي ادا کولی؟ هغه نعمت د اسلام دین، رمضان ته رسېدل او د هغې روژه او قیام دی... ایا دوی نه پوهیږي چې الله تعالی په دې نعمت سره هغوی پر خپلو ډېرو بندګانو غوره کړي دي؟

دوی به څه کول که الله تعالی د دې پر ځای چې مسلمانان کړي یې دي، بوديايان کړي وای چې بت ته یې سجده کولی او یا غوا پرست؟ او یا د هغو کسانو له جملې وای چې الله یو له دریو (تثلیث) ګڼلی؟ او یا وایي چې «عزیر» د الله زوی دی؟ په الله قسم، دا نړۍ هیڅ ارزښت نه لري، که بنده په نېکۍ سره ځان الله ته نږدې کړي او له خپلو نیمګړتیاوو او ګناهونو توبه وباسي...

* * *

وګورئ انصارو د «حنین» په غزا کې څه وکړل... هغه انصار چې په بدر کې یې له رسول الله ﷺ سره اوږه په اوږه جګړه وکړه... په احد کې یې جګړه وکړه او ډېر یې شهیدان شول... په خندق کې کلابند (محاصره) شول... او تل یې له رسول الله ﷺ سره جګړې کولې او قربانۍ یې ورکولې... تر دې چې مسلمانانو مکه فتحه

ketabton.com - The Digital Library



کړه او د حنین غزا ته روان شول...
په صحیح (حدیث) کې راغلي چې په پیل کې جګړه ډېره سخته شوه او خلک له رسول الله ﷺ څخه خواره واره شول، مسلمانانو ماتې په خپلو سترګو لیدله...
په دې وخت کې رسول الله ﷺ خپلو یارانو ته وکتل چې ترې تښتېدل...
نو انصارو ته یې غږ کړ: «ای د انصارو ډلې!»
انصارو وویل: «لبیک یا رسول الله!»؛ او بېرته راوګرځېدل، د هغه په وړاندې یې صفونه وتړل او دښمن یې په خپلو تورو داسې په شا وتمباوه او ځانونه یې پر رسول الله ﷺ قربان کړل چې کافران وتښتېدل او مسلمانان بریالي شول...
کله چې جګړه پای ته ورسېده او غنیمتونه د رسول الله ﷺ په وړاندې راټول شول... انصارو غنیمتونو ته کتل... ځینو خپل وړي ماشومان او نېستمنې کورنۍ يادولې... او هیله یې لرله چې له دې غنیمتونو به یو څه دوی ته هم ورسېږي ترڅو یې ژوند لږ ښه شي... خو په همدې حال کې...
ناڅاپه رسول الله ﷺ «اقرع بن حابس» راوغوښت چې یوازې څو ورځې وړاندې په مکه کې مسلمان شوی و او هغه ته یې سل اوښان ورکړل... بیا یې ابوسفیان راوغوښت او هغه ته یې هم سل اوښان ورکړل...
او همداسې یې غنیمتونه پر هغو نورو ووېشل چې نه یې د انصارو په څېر سربښندنه کړې وه او نه جهاد...
انصارو چې دا ولیدل، یو بل ته یې وویل: «الله دې پر رسول الله ﷺ رحم وکړي... قریشو ته ورکړه کوي او موږ پرېږدي، په داسې حال کې چې لا هم زموږ له تورو څخه د هغوی وینې څاڅي...»
سعد بن عباده (رض) — چې د انصارو مشر و — کله چې دا ولیدل، رسول الله ﷺ ته ورغی او ویې ویل: «ای د الله رسوله! ستاسو د انصارو ملګرو په زړونو کې له تاسو څخه خپګان پیدا شوی دی...»
رسول الله ﷺ وفرمایل: «د څه لپاره؟»
ویې ویل: «د هغه څه له امله چې د غنیمتونو په وېش کې دې وکړل... هغه دې په خپل قوم

ketabton.com - The Digital Library



کې وویشل او د عربو قبایلو ته دې لویې برخې ورکړې، خو انصارو ته دې هیڅ ورنه کړل...»

رسول الله ﷺ وفرمایل: «ای سعده! ته په دې اړه څه وایې؟»

ویې ویل: «زه هم د خپل قوم یو تن یم (زما نظر هم هغوی ته ورته دی)...»

رسول الله ﷺ وفرمایل: «خپل قوم یو ځای راټول کړه»...

کله چې انصار راټول شول، رسول الله ﷺ ورته راغی، د الله حمد او ثنا یې وویله او ویې فرمایل: «ای د انصارو ډلې! دا څه خبره ده چې له ستاسو څخه ماته رارسېدلې ده؟»

ویې ویل: «زموږ مشرانو خو څه نه دي ویلي... خو ځینو ځوانانو مو وویل: الله دې پر رسول الله ﷺ رحم وکړي، قریشو ته ورکړه کوي او موږ پرېږدي په داسې حال کې چې لا مو له تورو د هغوی وینې څاڅي!»

رسول الله ﷺ وفرمایل: «ای د انصارو ټولګیه! ایا تاسو بې لارې نه وئ او الله زما په وسیله تاسې ته هدایت ونه کړ؟»

ویې ویل: «هو... منت او فضل د الله او د هغه د رسول دی...»

«ایا تاسو غریبان نه وئ او الله زما له امله تاسو شتمن نه کړئ؟ ایا تاسو د یو بل دښمنان نه وئ او الله زما په واسطه ستاسو ترمنځ مینه پیدا نه کړه؟»

ویې ویل: «هو... منت او فضل د الله او د هغه د رسول دی...»

بیا یې څه ونه ویل... انصار هم چوپ شول... رسول الله ﷺ انتظار و چې هغوی څه ووایي او هغوی هم انتظار وو چې رسول الله ﷺ څه ووایي...

بیا یې وفرمایل: «ای انصارو! زما ځواب راکړئ!»

ویې ویل: «یا رسول الله! موږ څه ووایو... فضل او احسان یوازې د الله او د هغه د رسول دی...»

ویې فرمایل: «په الله قسم که تاسو غوښتلي وای، نو ویلی مو شول ــــ او رښتیا به مو ویلي وای او تصدیق به مو هم شوی وای ــــ؛ تاسو ویلی شول: ته موږ ته په داسې حال کې راغلې چې خلکو دروغجن ګڼلې او موږ تصدیق کړې... خلکو یوازې پرېښنی وې او موږ درسره مرسته وکړه... شړل شوی وې او موږ پناه درکړه... بې وسه وې او موږ درسره

ketabton.com - The Digital Library



خواخوږي وکړه...»

بيا يې وفرمايل: «ای انصارو! ايا د دنيا د يوې ناڅيزه ګټې لپاره چې ما پرې د څو نوې مسلمان شوو کسانو زړونه لاس ته راوړل او تاسو مې ستاسو اسلام ته پرېښودئ، په خپلو زړونو کې له رسول الله څخه خپه شوئ؟

قريش تازه له جاهليت او مصيبت څخه راوتلي وو، ومې غوښتل چې زړونه يې نرم کړم...

ای د انصارو ډلې! ايا تاسو په دې نه خوشحاله کېږئ چې خلک به مېږې او اوښان له ځان سره بوځي او تاسو به د الله له رسول سره خپلو کورونو ته ستنېږئ؟

که ټول خلک پر يوه لاره او دره لاړ شي او انصار پر بله دره، زه به د انصارو په دره کې روان شم...

زما دې په هغه ذات قسم وي چې د محمد (ﷺ) روح يې په لاس کې دی... که هجرت نه وای، زه به هم له انصارو څخه يو تن وای... اې الله! پر انصارو، د انصارو پر اولادونو او د هغوی پر لمسيانو رحم وکړه...»

خلکو دومره وژړل چې ږيرې يې لمدې شوې او ويې ويل: «موږ خوشحاله يو چې رسول الله ﷺ زموږ برخه او نصيب وي...»

بيا رسول الله ﷺ پاڅېد او انصاريان خواره شول...

هو! هغه اسلام چې دوی ورته هدايت شوي وو، تر هر هغه څه غوره و چې خلکو (د غنيمت په بڼه) ټولول...

خوښي په حال د هغه روژتي چې دا حقيقت احساس کړي، تقوا خپله کړي، دا مياشت روژه ونيسي او پوره اجر ترلاسه کړي...

رمضان په پوره ډول تسليم کړي او هغه [له اجرونو سره] ملائکو ته وسپاري... نه غيبت وي، نه چغلخوري، نه د مؤمنانو ځورول، نه په لمانځه کې سستي او نه د ګناهونو ترسره کول...

روژه ونيسي او ورسره سم يې غړي او اندامونه هم [له ګناهونو] روژه وي... د الله تعالی فرمانبرداره وي او د شپې په تروږمې کې لمونځ کوونکی وي؛ له اخرت څخه وېرېږي او د خپل رب رحمت ته هيلهمن وي...

ketabton.com - The Digital Library



مبارک دې وي هغوی چې داسې دي... هغوی د ټولو میاشتو د رب عبادت کوي... باطن يې د ظاهر په څېر دی... شوال يې د رمضان په څېر دی... دا هغه کسان دي چې د رسول الله ﷺ دا وینا پرې صادقېږي:

«د آدم د زوی هر عمل د هغه لپاره دی... هره نېکي له لس چنده څخه تر اووه سوه چنده پورې ثواب لري. الله عزوجل فرمايي: پرته له روژې چې هغه زما لپاره ده او زه يې بدله ورکوم... ځکه بنده خپل شهوت، خوراک او څښاک زما لپاره پرېښی دی... روژتي لره دوه خوشحالۍ دي؛ یوه د افطار په وخت کې او بله د خپل رب د لیدو په وخت کې... او بېشکه د روژتي د خولې بوی الله ته تر مشکو هم خوشبويه دی»...

په صحیحینو کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «هر څوک چې د ایمان او ثواب په نیت د رمضان روژه ونیسي، تېر ګناهونه يې ببنل کېږي»...

امام مسلم هم په خپل صحیح کې له رسول الله ﷺ څخه روایت کړی: «څوک چې د الله په لاره کې یوه ورځ روژه ونیسي، الله تعالی د همدې یوې ورځې په برکت د هغه مخ اویا (۷۰) کاله له اوره لرې ساتي»...

امام بخاري په خپل صحیح کې روایت کړی چې په جنت کې یوه دروازه ده چې «رَیّان» نومېږي، یوازې روژتیان ترې ننوځي او له هغوی پرته بل څوک ترې نشي داخلېدی؛ کله چې هغوی ننوځي، دروازه ترل کېږي...

بېشکه دا لوی اجر یوازې د هغه چا لپاره نه دی چې یوازې له خوراک او څښاک يې ډډه کړې وي، بلکې د هغو کسانو لپاره دی چې د روژې آداب يې مراعات کړي وي...

متقي روژتی خپله ژبه ساتي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې باطله خبره او په هغې عمل کول پرېنږدي، نو الله د دې هیڅ حاجت نه لري چې هغه دې خپل خوراک او څښاک پرېږدي»...

او په صحیحینو کې روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «روژه سپر (ډال) ده... نو کله چې ستاسو څخه څوک روژه وي، نو بدې خبرې دې نه کوي، فحش دې نه وايي او جاهلي چلند دې نه کوي... که چا ورته بد وویل او یا يې ورسره جګړه کوله، نو ورته دې ووايي: زه روژه یم»...

ketabton.com - The Digital Library



زموږ سلفو ان له روژې پرته هم د ژبې له ښوېدلو وېره لرله، نو په روژه کې به يې حال
څنګه وي؟!

ابوهريره (رض) او ملګرو به يې چې کله روژه وه، په جومات کې به کېناستل او ويل به
يې: «خپله روژه ساتو (پاکه يې ساتو)!»

دا د عاقل انسان حال دی... ولې د خلکو غيبت وکړي او خپل ثوابونه نورو ته ورکړي؟

عبدالله بن مبارک سفيان ثوري ته وويل: ای ابا عبدالله! ابوحنيفه څومره له غيبت څخه لرې
دی!

سفيان وويل: «هغه تر دې هوښيار دی چې نور خلک پر خپلو نېکيو مسلط کړي ترڅو يې
يوسي!»

ان ځينو به يې ځانونه پر مباحو خبرو هم ملامتول، د نورو خو څه کوې...

ابن قدامه په «الرقة والبكاء» کې د مالک بن ضيغم له قوله ليکي: «رياح القيسي له مازديګر
وروسته زما د پلار ليدو ته راغی... موږ ورته وويل: هغه ويده دی.
رياح وويل: له مازديګر وروسته خوب؟ ايا دا د خوب وخت دی؟! بيا لاړ...
موږ خپل مريي ته وويل: ورپسې لاړ شه او ورته ووايه چې ايا هغه راوېښ کړو؟
مريی لاړ... خو له ماښام وروسته بېرته راغی!
موږ ترې وپوښتل: ورسېدې؟
وېې ويل: هغه تر ما ډېر په خپل ځان بوخت و... کله چې ور ورسېدم، هغه هديرې ته ننوتی
و او خپل ځان يې ملامتاوه او ويل يې: اې نفسه! ولې دې وويل چې "دا د خوب وخت دی؟"
پرېږده يې چې کله يې زړه وي ويده دې شي... ايا له تا څخه د داسې څه په اړه پوښتنه کېږي
چې په تا پورې اړه نه لري؟ پر ما لازمه ده چې د الله لپاره دومره او دومره لمونځ وکړم!
(دا يې د هغې يوې فضول خبرې جريمه وټاکله).»

* * *

هو! له خپل ځان څخه په دقت سره حساب واخلئ او هيڅ وړوکی شی مه سپکوئ...

يوه ورځ عائشه (رض) له رسول الله ﷺ سره ناسته وه او د صفيې (رض) — د رسول الله
ﷺ بله بيبي — په اړه يې خبره وکړه. عايشې وويل: ای د الله رسوله! د صفيې په اړه تاته

ketabton.com - The Digital Library



دا بس ده چې هغه داسې ده... (يعنې قد يې ټيټ دی).
رسول الله ﷺ وفرمايل: «داسې خبره دې وکړه چې که د سمندر له اوبو سره ګډه شي، رنګ او خوند به يې بدل کړي» [رواه الترمذي].
او په صحيحينو کې روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «بنده کله د الله د غصې يوه خبره په ژبه راوړي او هيڅ پام ورته نه کوي، خو د هغې په سبب د مشرق او مغرب په اندازه په دوزخ کې لوېږي»...

* * *

اې روژتيانو، نارينه وو او ښځو! په دې لويه مياشت کې يو له غوره اعمالو څخه «قيام الليل» (د شپې لمونځ) دی...
په صحيحينو کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «هر څوک چې د رمضان په شپو کې د ايمان او ثواب په نيت (لمانځه ته) ودرېږي، تېر ګناهونه يې ښنل کېږي»...
الله تعالى د مؤمنانو په ستاينه کې فرمايي:
﴿وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمٗا ٦٣ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ٦٤﴾ [الفرقان: ۶۳-۶۴].
«او د رحمان بندګان هغه دي چې پر ځمکه په عاجزۍ او نرمۍ سره ګرځي او کله چې ناپوهان ورسره خبرې کوي، هغوی ته (په سلامتۍ سره) ځواب ورکوي. او هغه کسان چې شپې د خپل رب لپاره په سجده او قيام کې تېروي».
د شپې لمونځ د رسول الله ﷺ او د هغه د اصحابو عادت و...
په صحيح حديث کې له حذيفه (رض) څخه روايت دی: «يوه شپه مې له رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ... د بقره سورت يې پيل کړ... ما له ځان سره وويل چې په سلو ايتونو کې به رکوع وکړي... خو هغه دوام ورکړ... ما وويل چې په يوه رکعت کې به يې ولولي... خو هغه دوام ورکړ... ما وويل چې په پای کې به يې رکوع وکړي... خو هغه د نساء سورت پيل کړ... هغه يې هم ولوست، بيا يې د آل عمران سورت پيل کړ او هغه يې هم ولوست... په ډېر ارام او ترتيل يې لوستل؛ هر کله به چې د تسبيح ايت ته ورسېد، تسبيح به يې ويله، که د دعا ايت ته به ورسېد، دعا به يې کوله او که د پناه غوښتلو ايت ته به ورسېد، پناه به

ketabton.com - The Digital Library



يې غوښتله...
بيا رکوع ته لاړ او هلته يې "سبحان ربي العظيم" ويل... رکوع يې نږدې د قيام په اندازه وه... بيا يې "سمع الله لمن حمده" وويل او له رکوع وروسته تر ډېره ودرېد... بيا سجدې ته لاړ او "سبحان ربي الأعلى" يې وويل او سجده يې هم نږدې د (رکوع نه وروسته) قيام په اندازه وه...»

ابوبکر (رض) به هم د شپې تر هغه وخته چې د الله خوښه وه، لمانځه ته درېده او ژړل به يې...
عمر (رض) به د شپې لمونځ کاوه او کله به چې شپه نيمه شوه، خپله کورنۍ به يې لمانځه ته راويښوله او ويل به يې: «لمونځ! لمونځ!» او دا ايت به يې تلاوت کاوه: ﴿وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ١٣٢﴾ [طه: ١٣٢].
«او خپله کورنۍ په لمانځه امر کړه او پخپله هم پر هغه ثابت قدم اوسه؛ موږ له تا څخه روزي نه غواړو؛ موږ تاته روزي درکوو او ښه انجام د تقوا لپاره دی».
هو، هغوی د خپل رب لپاره د يو داسې مئين په څېر لمونځ کاوه چې د هغه پر فضل يې اقرار درلود او په وړاندې يې عاجز وو، په پايله کې يې له الله سره مينه، شوق او د هغه جنت ته لېوالتيا لا زياتېده...
هغه کسان چې له هغوی وروسته راغلل، هم داسې وو...
محمد بن خفيف (رح) د ملا د هډوکي (لګن) په درد اخته و... درد يې دومره سخت و چې کله به له حرکته ولوېد، خو کله به چې اذان وشو، د يو سړي پر اوږو به لمانځه ته تللو. ورته وويل شول: الله تاته عذر درکړی، کاشکې پر خپل ځان دې دومره فشار نه وای راوړی.
ويې ويل: «هيڅکله نه... که مو واورېدل چې مؤذن وايي: "حی علی الصلاة" او زه مو د جومات په صف کې ونه موندلم، نو بيا مې په هديره کې ولټوئ!»
هغوی څومره (عجيبه) ناروغان وو! يا ښه دا ده چې ووايو: موږ څومره (غافل) ناروغان يو!

ketabton.com - The Digital Library



منصور بن معتمر (رح) به چې کله د شپې تروږمی شوه، خپلې غوره جامې به یې واغوستلې، د خپل کور بام ته به وختلو او لمونځ به یې کاوه. کله چې هغه وفات شو، د ګاونډي ماشوم خپلې مور ته وویل: «مورې! د هغه ونې ډډ چې د شپې به زموږ د ګاونډي پر بام و، اوس یې نه وینم...» مور یې ورته وویل: «زویه! هغه د ونې ډډ نه و، هغه منصور و چې لمونځ یې کاوه او اوس وفات شوی دی.»

* * *

هغوی چې به کله د خپل رب په وړاندې ودرېدل، د هغه عظمت یې احساساوه...
ابوزرعه رازي (رح) شل کاله د خپل قوم امام و. یوه ورځ د حدیثو د زده کوونکو یوه ډله ورته راغله، د هغه د جومات محراب ته یې وکتل او ویې لیدل چې پر دېوال یې ځینې نقوش او لیکل شوي دي. پوښتنه یې وکړه: په محراب کې د لیکلو حکم څه دی؟ ویې ویل: «سلفو دا کار مکروه ګڼه، زه یې هم منع کوم او مکروه یې بولم.» ورته ویې ویل: خو ستا په محراب کې خو پر دېوال لیکل شوي دي، ایا په دې نه پوهېدې؟ ابوزرعه وویل: «سبحان الله! انسان د الله په وړاندې ولاړ وي او بیا هم پوهېږي چې مخې ته یې (پر دېوال) څه لیکل شوي دي؟!»

* * *

عبدالرزاق چې د سفیان ثوري شاګرد و، د هغه په اړه وایي: سفیان له ماسختن وروسته ماته راغی، ما ورته ډوډۍ، ممیز او کیلې راوړې. ډوډۍ یې وخوړه، بیا راپاڅېد، اودس یې وکړ، خپل کالي یې کلک وتړل، قبلې ته ودرېد او ویې ویل: «ای عبدالرزاقه! وایي چې خپل خره ته ښه واښه ورکړه او بیا کار ترې واخله!» بیا یې تر سهاره لمونځ وکړ.
ابن وهب وایي: سفیان ثوري مې له ماښام وروسته په حرم کې ولید، لمونځ یې وکړ او سجدې ته لاړ، تر هغه په سجده کې پاتې شو چې د ماسختن اذان وشو.

* * *

هو... هغوی په نېکیو کې یو له بله مخکې کېدل.
ابومسلم خولاني یوه شپه لمانځه ته ودرېد، دومره ودرېد چې پښې یې ستړې شوې، نو پر خپلو پښو یې په دورې (قمچینې) ووهلې او ویې ویل: «ایا د پیامبر ﷺ اصحاب داسې ګڼي

ketabton.com - The Digital Library



چې په دې کار کې به له موږ مخکې شي؟ په الله قسم، موږ ورسره سيالي کوو ترڅو هغوی يوه شي چې له ځان وروسته يې سړي پرېښي دي.»
هغوی په خپل لمانځه کې خشوع او په خپله سجده کې عاجزي احساسوله. ذهبي د شعبه (رح) د يو ملګري څخه روايت کوي چې وايي: «شعبه به لمونځ ډېر اوږد کاوه، کله به چې رکوع ته لاړ، ما به ګمان کاوه چې (له رکوع څخه پاڅېدل) يې هېر شوي، او کله به چې د دوو سجدو ترمنځ کېناست، ما به ګمان کاوه چې (سجدې ته تلل) يې هېر کړي دي.»
په «حلية الأولياء» کې راغلي چې عبيده بن مهاجر يو عابد، شکرګزار، خاشع او ذاکر انسان و. هغه يوه زردشتي مور لرله چې له هغې سره يې ډېره نېکي کوله او اسلام ته يې رابلله، خو مور يې نه منله.
يوه ورځ له مازديګر لمانځه وروسته کور ته راستون شو، مور يې زيری ورکړ چې مسلمانه شوې ده او کلمه يې ويله. عبيده سجدې ته پرېوت، له ډېرې خوشحالۍ يې ژړل او له الله سره يې مناجات کاوه، دومره په سجده کې پاتې شو ترڅو لمر ډوب شو.

* * *

دا عابدان يوازې په نارينه وو کې نه وو، بلکې ډېره برخه يې ښځې وې. معاذه عدويه به نږدې ټوله شپه لمونځ کاوه او ويل به يې: «تعجب کوم هغې سترګې ته چې ويده کېږي، په داسې حال کې چې پوهېږي د قبر په تروږمۍ کې به ډېر اوږد خوب ولري...» او ژړل به يې.
حفصه بنت سيرين به د شپې څراغ بلوه، لمانځه ته به درېدله او خپل کفن به يې نږدې کېښود ترڅو په لمانځه کې مرګ ورته ياد وي او خشوع يې زياته شي. هغوی دومره رکوعګانې او سجدې وکړې دومره لمونځونه يې وکړل چې بالاخره ورسره عادت شول...
حسن بن صالح يوه وينځه لرله؛ هغه يې پر بل چا وپلورله... د نوي مالک کره چې کله نيمه شپه شوه، هغه راپاڅېده او په لوړ غږ يې وويل: «اې خلکو! لمونځ! لمونځ!» هغوی په وارخطايۍ له خوبه راويښ شول او ويې ويل: ايا سهار شو؟ هغې وويل: ايا تاسو يوازې

ketabton.com - The Digital Library



فرضي لمونځونه کوئ؟
سهار مهال حسن ته ورغله او ويې ويل: «تا زه په ډېرو بدو خلکو پلورلې يم چې يوازې فرضي لمونځونه کوي او يوازې د روژې مياشتې روژې نيسي... ما بېرته واخله...» حسن هم هغه بېرته واخيسته.
که هغې زمونږ د زماني د مسلمانانو ډله وليدله، نو څه به يې ويل؟ هغه کسان چې پرله پسې ورځې ترې رواني دي او د شپې په خپلو بسترونو کې اوږې رااوړي... نه د شپې عبادت ته پاڅيږي او نه د سهار لمانځه ته.
دوی داسې دي لکه الله تعالی چې فرمايلي دي:
﴿فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ٥٩﴾ [مريم: ۵۹].
«بيا نو له هغوی وروسته داسې کسان (ځايناستي) شول چې لمونځ يې ضايع کړ او د خپلو غوښتنو (شهواتو) پيروي يې وکړه، نو ژر ده چې هغوی به د خپلې بې لارۍ سزا ووينی».
*     *     *
او په روژه کې به يې لا زيات کوښښ کاوه...
صحابه کرامو د عمر (رض) په زمانه کې درويشت (۲۳) رکعته لمونځ کاوه او په رمضان کې به يې څو ځله قرآن ختم کاوه.
په «موطا» کې له ابن هرمز څخه روايت دی چې وويل: «ما خلک په داسې حال کې وموندل چې په روژه کې به يې پر کافرانو لعنت کاوه... کله به قاري په اتو رکعتونو کې البقره سورت پای ته ورساوه او که به يې په دولسو رکعتونو کې تلاوت کړ، خلکو به ګمان کاوه چې لمونځ يې سپک (لنډ) کړی دی!»
همدارنګه په «موطا» کې له عبدالله بن ابي بکر څخه د خپل پلار په روايت راغلي چې وويل: «موږ به په روژه کې د شپې له لمانځه (تراويح او قيام) څخه په داسې حال کې راستنېدلو چې له وېرې به مو مريي ته ويل بيره کوه پشلمی راوړه (ځکه سهار ته به وخت کم پاتې و)...»
د هغوی حال له هغه حال سره پرتله کړئ چې نن سبا يې موږ لرو...
*     *     *

ketabton.com - The Digital Library



دا د الله تعالی فضل دی چې هر څوک د تراویح لمونځ په بشپړ ډول له امام سره وکړي،دا داسې دی لکه ټوله شپه یې چې لمونځونه کړی وي؛ لکه څنګه چې په «سنن» کې له رسول الله ﷺ څخه روایت دی چې ویې فرمایل: «هر څوک چې له خپل امام سره لمانځه ته ودرېږي تر دې چې لمونځ پای ته ورسېږي، د هغه لپاره د یوې بشپړې شپې قیام (عبادت) لیکل کېږي».

هو... دا هغه کسان دي چې د خپل رب عبادت یې وکړ... د هغه له عذابه ووېرېدل او د هغه عافیت ته هیلهمن وو، زړونه یې د هغه له محبت سره وتړل شول... نو ځکه یې په دنیا کې ډېر کوښښ وکړ، د خلکو ترمنځ یې مقام لوړ شو او د اسمان د اوسېدونکو ترمنځ یې مینه زیاته شوه... او الله تعالی یې مینه د ځمکې د اوسېدونکو په زړونو کې کېښوده. الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ٩٦﴾ [مریم: ۹۶]. «بېشکه هغوی چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي دي، رحمن (خدای) به ژر د هغوی لپاره (په زړونو کې) مینه پیدا کړي».

* * *

د روژې میاشت، د قرآن میاشت ده؛ او جبرئیل (ع) به په دې میاشت کې له رسول الله ﷺ سره د قرآن تکرار (مدارسه) کاوه.

عثمان (رض) به هره ورځ قرآنکریم ختموه.

زُهري به د روژې په رارسېدو سره د حدیثو له مجلسونو او له عالمانو سره له ناستې تښتېده او له مصحف (قرآن) سره به یې تلاوت ته مخه کوله.

سفیان ثوري به له روژې پرته، په هرو اوو شپو کې یو ځل قرآن کریم ختموه، په روژه کې به یې په هرو دریو شپو کې او د روژې په وروستیو لسو شپو کې به یې هره ورځ یو ځل د قرآن ختم کاوه.

ابراهیم نخعي به په وروستیو لسو شپو کې، هره شپه یو ځل قرآن ختموه او په نورو میاشتو کې به یې په هرو دریو ورځو کې یو ځل ختم کاوه.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



هغوی یوازې قرآن نه لوست، بلکې تدبر یې هم پکې کاوه.
په بخاري کې له ابن مسعود (رض) څخه روایت دی چې وویل:
«یوه ورځ رسول الله ﷺ ماته وفرمایل: "ماته (قرآن) ولوله" ما وویل: ایا تاته یې ولولم په داسې حال کې چې پر تا نازل شوی دی؟
ویې فرمایل: "خوښوم یې چې له بل چا څخه یې واورم"...»
ابن مسعود وایي: بیا مې د نساء سورت تلاوت کړ تر دې چې دې ایت ته ورسېدم: ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ٤١﴾ [النساء: ۴۱].
«نو (د هغو خلکو حال به) څرنګه وي کله چې موږ له هر امت څخه یو شاهد راوړو او تا پر دغو خلکو شاهد راوړو؟».
بیا یې وفرمایل: «بس ده (کافي ده)»... ما ورته وکتل، ومې لیدلو چې له سترګو یې اوښکې رواني وې...
په روژه کې قرآن او روژه یو ځای کېږي او په دې ډول مؤمن له دوو شفاعتونو برخمن کېږي.
د قیامت په ورځ به قرآن او روژه د هغه لپاره شفاعت کوي. لکه څنګه چې په «مسند» کې له رسول الله ﷺ څخه په صحیح سند روایت دی چې ویې فرمایل: «روژه او قرآن د بنده لپاره د قیامت په ورځ شفاعت کوي. روژه وایي: اې پروردګاره! ما دا سړی په ورځ کې له خوراک او شهوت څخه منع کړی و، نو زما شفاعت یې په اړه ومنه... او قرآن وایي: اې پروردګاره! ما دا سړی د شپې له خوبه منعه کړی و، نو زما شفاعت یې په اړه ومنه... او د هغوی شفاعت منل کېږي».
او رسول الله ﷺ فرمایي: «قرآن د قیامت په ورځ راځي او وایي: اې پروردګاره! ده ته زینت ورواغونده... نو د کرامت تاج یې پر سر اېښودل کېږي... بیا وایي: اې پروردګاره! پر ده نور هم اضافه کړه... نو د کرامت کالي (حُله) ورته ورواغوستل شي... بیا وایي: اې پروردګاره! له ده څخه خوشحاله شه... نو الله ترې خوشحاله شي او ورته وویل شي: ولوله او پورته ځه او د هر ایت په بدل کې به یې نېکۍ زیاتې شي».
ابن ماجه او احمد روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «قرآن به د قیامت په ورځ په

ketabton.com - The Digital Library



داسې حال کې چې رنګ یې الوتی وي، خپل ملګري (صاحب) ته راشي کله چې هغه له قبره راوځي... ورته وبه وايي: ايا ما پېژني؟
هغه به ووايي: نه، نه دې پېژنم... قرآن به ووايي: زه قرآن يم، ستا هغه ملګری... هغه څوک چې په سخته ګرمۍ کې مې تږی ساتلې وي او د دې سبب شوم چې شپې ويښه دربانديِ تېره شي... هر تاجر تر خپلې سوداګرۍ وروسته ګټه لري او ته نن له ټولو سوداګرو ګټونکی يې.
بيا به يې ښي لاس ته واکمني او چپ لاس ته به يې تلپاتې ژوند (خلود) ورکړل شي، پر سر به يې د وقار تاج کېښودل شي او مور او پلار ته به يې داسې دوه کالي (لباسونه) وروا غوستل شي چې دنيا يې بيې عاجزه وي، هغوی به وپوښتي: مور. ته دا کالي ولې راکړل شول؟ ورته به وويل شي: ستاسو د زوی له امله چې د قرآن اهل و... بيا به ده ته وويل شي: لوله او د جنت درجو او بالاخانو ته پورته ځه... او تر هغه به پورته ځي چې تلاوت کوي... که په تېزۍ وي او که په ترتيل سره.»
او رسول الله ﷺ فرمايي: «زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح يې په لاس کې دی، هغه (مړی) کله چې خلک (له ښخولو وروسته) بېرته ترې ځي د هغوی د څپليو غږ. اوري؛ نو که مؤمن وي، لمونځ يې د سر لوري ته، زکات يې ښي لوري ته او روژه يې کيڼ لوري ته وي... نېک کارونه او پر خلکو احسان يې د پښو لوري ته وي.
د سر له لوري به (عذاب) راشي، لمونځ به ووايي: زما له لوري لار نشته... له ښي لوري به راشي، زکات به ووايي: زما له لوري لار نشته... له پښو به راشي، هغه نېک کارونه چې د خلکو اپاره يې کړي وو، هغوی به ووايي: زما له لوري لار نشته...»
قرآن د سلفو په نزد داسې و... د شپې به يې ويښ ساتل او سترګې به يې پرې اوښلنې وې.
عبيد بن عمير وايي: له عايشې (رض) مې وپوښتل چې د رسول الله ﷺ تر ټولو د عجبې (شګفت انګيزې) پېښې په اړه مې خبر کړه چې ليدلې دې وي...
ام المؤمنين لږه چوپه شوه، بيا يې وويل: «يوه شپه يې ماته وفرمايل: ای عايشې! اجازه راکړه چې نن شپه د خپل رب عبادت وکړم...
ما وويل: په الله قسم چې زه ستا نږدېوالی هم خوښوم او هغه څه هم خوښوم چې ته پرې

ketabton.com - The Digital Library



خوشحاله کېږي...

هغه راپاڅېد، اودس یې وکړ او لمانځه ته ودرېد... دومره یې وژړل چې ږیره یې لنده شوه... بیا یې دومره وژړل چې ځمکه لنده شوه...

بیا بلال (رض) راغی ترڅو د لمانځه خبر ورکړي... کله چې یې ولیدل هغه ژاړي، ویې ویل: ای د الله رسوله! ته ژاړې؟! په داسې حال کې چې الله ستا تېر او راتلونکي ګناهونه ببنلي دي؟!

ویې فرمایل: ایا زه یو شکرګزار بنده نه شم؟ نن شپه راباندې یو ایت نازل شوی... افسوس دې وي پر هغه چا چې دا ولولي او فکر پکې ونه کړي: ﴿إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٠﴾ [آل‌عمران: ١٩٠].

«بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په بدلېدو (راتګ او تګ) کې د عقل خاوندانو لپاره نښې نښانې دي».»

هغوی به قرآن تلاوت کاوه او ژړل به یې...

خو د دې دورې د ځینو مسلمانانو لپاره قرآن یوازې د کورونو، بازارونو او موټرو د سینګار وسیله ګرځېدلې ده... ان کله داسې وینو چې په موټر کې د قرآن ایت ځړول شوی وي، خو ډرایور ورسره شراب یا سګرټ ایښي وي او کله چې د لمانځه وخت شي، لمونځ نه کوي!

یا په ځینو ادارو کې ګورو چې د قرآن ایتونه په چوکاټونو کې په دېوالونو ځړول شوي، خو په هماغه ځای کې له خلکو رشوت اخلي او غولوني کوي...

یا ان ځینې بې حجابه ښځې په خپلو غاړو کې داسې امیلونه (هارونه) ځړوي چې د قرآن ایتونه پرې لیکل شوي وي، په داسې حال کې چې پخپله قرآن ټولو ښځو ته وايي: ﴿وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ﴾ [الأحزاب: ٣٣].

«او د لومړني جاهلیت په څېر (بې حجابه) مه راوځئ او ځانونه مه ښکاره کوئ»...

* * *

د قرآن د تلاوت ځینې آداب دادي:

* د اودس په حالت کې لوستل او له تلاوت وړاندې مسواک وهل...

ketabton.com - The Digital Library



* تلاوت په «أعوذ بالله من الشيطان الرجيم» او «بسم الله الرحمن الرحيم» سره پيل کول...
* په ښکلي غږ او ترتيل (کلمه په کلمه او بې له عجلې) لوستل؛ لکه څنګه چې په «مستدرک» او نورو سرچينو کې له رسول الله ﷺ څخه روايت دی چې ويې فرمايل: «قرآن په خپلو غږونو سره ښايسته کړئ، ځکه ښکلی غږ د قرآن ښکلا زياتوي»...
* يو بل ادب دا دی چې څوک بايد په تلاوت کې خپل غږ پر بل چا لوړ نه کړي. رسول الله ﷺ فرمايي: «پوه شئ چې ستاسو هر يو له خپل رب سره په مناجات بوخت دی، نو څوک دې بل ته آزار نه رسوي او هيڅ يو دې خپل غږ په تلاوت کې پر بل چا نه لوړوي»...
* هغه څوک چې تلاوت ورته ګران (سخت) وي، بايد صبر وکړي؛ ځکه رسول الله ﷺ فرمايي: «هغه څوک چې قرآن لولي او په هغه کې مهارت لري، له نېکو او معززو ملايکو سره به وي... او څوک چې قرآن لولي او لوستل يې پرې سخت وي ، هغه لره دوه اجرونه دي»...
* بل ادب دا دی چې د تلاوت پر مهال بايد د ژړا او خشوع حالت وشي. الله تعالی د مؤمنانو په ستاينه کې فرمايي:
﴿وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا۩ ١٠٩﴾ [الإسراء: ١٠٩].
«او هغوی پر څمکه لوېږي، ژاړي او دا کار د هغوی عاجزي (فروتني) زياتوي».
خو په لوړ غږ د ژړا او انګولا هغه پديده چې په رمضان کې په ځينو جوماتونو کې ليدل کېږي او تر دې حده رسېږي چې نور لمونځ کوونکي ځوروي، نه د رسول الله ﷺ سنت دی او نه د صحابه کرامو تګلاره... ځکه د هغوی ژړا چيغې او سانډې نه وې.
د تلاوت يو بل ادب دا دی چې د قرآن په فهم (پوهېدلو) کې کوښښ وشي او د تفسير کتابونه ولوستل شي. هر څوک چې د مسلمانانو حال وګوري، پوه به شي چې ډېری يې د قرآن په مانا نه پوهېږي. که له يو چا وپوښتې چې ايا «قل هو الله أحد» دې ياد ده؟ وبه وايي: هو... خو که ترې وپوښتې چې د «صمد» څه مانا لري؟ يا د «فلق» مانا څه ده؟ د «غاسق إذا وقب» مانا څه ده؟ يا «والعاديات ضبحا» او «فالموريات قدحا» څه مانا لري؟ نه پرې پوهېږي. په داسې حال کې چې دا د قرآن واړه سورتونه دي.
دا مې لا د بقرې او آل عمران د ايتونو په اړه نه دي پوښتلي، بلکې د هغو سورتونو په اړه

ketabton.com - The Digital Library



چې هره ورځ يې لولي يا يې اوري، خو بيا هم په مانا يې نه پوهېږي. هغه به څه له لاسه ورکړي که يو ساعت د دې سورتونو د تفسير په زده کړه کې تېر کړي؟ نو ځکه د قرآن قاري ته ښايي چې د هغه څه په پوهېدو کې کوښښ وکړي چې لولي يې...

*　　　　　*　　　　　*

په دې مبارکه مياشت کې يو له غوره عبادتونو څخه «دعا» ده. دعا په هر وخت کې مستحب ده، خو په ځينو وختونو کې يې ټينګار ډېر دی:

* روژتی د افطار پر مهال يوه داسې دعا لري چې نه ردېږي...

* همدارنګه د شپې په وروستۍ برخه (ثالثه) کې چې زموږ رب (تبارک و تعالی) د دنيا اسمان ته رانښکته کېږي او فرمايي: «ايا کوم سوالګر شته چې غوښتنه يې پوره کړم؟ ايا کوم بښنه غوښتونکی شته چې ويې بښم؟»...

* الله تعالی د سحر په وخت کې استغفار کوونکي ستايلي او فرمايلي يې دي:

﴿كَانُواْ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ١٧ وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ١٨﴾ [الذاريات: ۱۷-۱۸].

«د شپې به لږ ويده کېدل او په سحرونو کې به يې استغفار کاوه».

مستحب ده چې انسان د دعا د قبلېدو وختونه ولټوي؛ لکه د اذان او اقامت ترمنځ، د جمعې په ورځ د قبلېدو ساعت، له فرضي لمونځونو وروسته او نور...

هغه برخې چې يادې شوې، ښځې هم د نارينه وو په څېر دي؛ په طاعتونو باندې په حرص او د فرصتونو په غنيمت ګڼلو کې. خو ځينې ښځې په دې برخه کې سستي کوي؛ همدا چې رمضان راشي، بازارونو ته يې تګ راتګ زيات شي... ځينې يې وينې چې لستوڼي يې دومره پورته کړي وي چې متې يې ښکاري، يا يې نامناسب کالي اغوستي وي او د عطرو بوی يې په چاپېريال کې خپور وي...

ځينې ځوانان ټوله ورځ روژه وي... خو همدا چې شپه شي، خپلې غوره جامې اغوندي، ځانونه سينګاروي او بازارونو ته وځي ترڅو ښځو او نجونو ته ځانونه ښکاره کړي... يوې ته کتل، بلې ته اشاره کول او... عجيبه ده! ورځ يې په خوب او شپه يې په خراب (ګناه)!

خلک په لمانځه او خشوع بوخت وي او دی د ناموس او عزت په ښکار پسې ګرځي...

څومره لويه غميزه ده... افسوس پر هغو زهرجنو کتلو او هغو خوږو (خو فريبنده) خبرو...

ketabton.com - The Digital Library



په دې مبارکه میاشت کې یو له غوره اعمالو څخه بخښنه، سخاوت او نېکاري ده... رسول الله ﷺ تر ټولو خلکو زیات سخی و او په رمضان کې به یې سخاوت لا ډېرېده... په نېکۍ او لورینه کې به هغه تر «باراني باد» هم زیات سخی وه... او څومره ډېر ځله داسې شوي چې الله تعالی د هغې نېکۍ په سبب چې انسان له کوم مصیبت ځېلي سره کړې، یا د هغه صدقې په برکت چې کوم اړمن ته یې ورکړې، د هغه ګناهونه بښلي او عیبونه یې ورته پټ کړي دي... او صدقه د ګناهونو اور داسې مړ کوي لکه اوبه چې اور مړ کوي.

په «تاریخ بغداد» کې راغلي چې یو فقیر سړی عبدالله بن مبارک ته راغی او ورڅخه یې وغوښتل چې د هغه پور (قرض) ور ادا کړي... عبدالله هغه ته یو لیک ورکړ چې د هغه د مالونو وکیل ته یې یوسي.

فقیر هغه لیک وکیل ته یووړ... وکیل ورته وویل: هغه پور چې تا له عبدالله څخه یې د ادا کولو غوښتنه کړې وه، څومره و؟

ویې ویل: اووه سوه درهمه...

وکیل عبدالله بن مبارک ته ولیکل: دې سړي له تا څخه د اووه سوه درهمو غوښتنه کړې وه، خو تا ورته په لیک کې اووه زره درهمه لیکلي دي... په دې ډول خو مالونه ختمېږي...

عبدالله په ځواب کې ورته ولیکل: «که مالونه فنا کېږي... نو عمر هم په فنا کېدو دی... هر څه چې مې په غلطۍ کې لیکلي دي، هغه ورته ورکړه.»

* * *

په «سیر أعلام النبلاء» کې راغلي چې ابن مبارک به ډېر وخت «رقه» ښار ته سفر کاوه او هلته به په یوې مسافرخانه کې پاتې کېده... په دې ښار کې یو ځوان هغه ته راته، د هغه خدمت به یې کاوه او حدیثونه به یې ترې اورېدل.

یو ځل عبدالله رقه ته راغی خو هغه ځوان یې ونه لید... د هغه په اړه یې وپوښتل؛ ورته وویل شول: هغه د پور له امله چې پر غاړه یې و، په زندان کې دی. عبدالله وویل: د پور اندازه یې څومره ده؟ ورته وویل شول: لس زره درهمه. عبدالله یې په لټه کې شو ترڅو د مال خاوند پیدا کړي؛ د شپې یې هغه راوغوښت او لس زره

ketabton.com - The Digital Library



درهمه یې ورکړل او قسم یې ورکړ چې تر څو عبدالله بن مبارک ژوندی وي، څوک به له دې حاله نه خبروي، او ویې ویل: سهار هغه ځوان له زندانه راوباسه. ځوان له زندانه ازاد شو او عبدالله په هماغه شپه له رقه څخه ووت. کله چې ځوان ازاد شو، خلکو ورته وویل: عبدالله بن مبارک دلته و او ستا پوښتنه یې کوله... ځوان په عبدالله پسې روان شو او له رقه څخه درې منزله لرې ور ورسېد. کله چې یې سره ولیدل، عبدالله ورته وویل: زویه! چیرته وې؟ په مسافرخانه کې مې ونه لیدې؟ ویې ویل: د هغه قرض له امله په زندان کې وم چې پر ما و.
عبدالله وویل: نو څنګه ازاد شوې؟ ځوان وویل: یو سړی راغی، زما پور یې ادا کړ او زه تر ازادېدو پورې په دې خبر نه وم.
عبدالله ورته وویل: «د الله حمد ووایه چې تاته یې ستا د پور د ادا کولو توفیق درکړ...» بیا سره جلا شول.

* * *

په رمضان کې صدقه بېلابېل ډولونه لري... یو یې د خوړو ورکول دي: ﴿وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ٨...﴾ [الإنسان: ٨-١٢]. «او هغوی (د الله بندګان) د هغه (الله) په مینه بېوزلو، یتیمانو او بندیانو ته خواړه ورکوي... موږ یوازې د الله د رضا لپاره تاسو ته خواړه درکوو، له تاسو څخه نه بدله غواړو او نه شکر...»

حاکم نیشاپوري روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «ای خلکو! سلام عام کړئ، خواړه ورکړئ او د خپلوۍ پالنه (صله رحم) وکړئ ترڅو په سلامتۍ سره جنت ته داخل شئ.»
د دې امت صالحو خلکو طعام ورکول له عبادتونو څخه ګڼل. ترمذي روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «هر هغه مؤمن چې بل مؤمن ته په لوږه کې خواړه ورکړي، الله تعالی به هغه ته د جنت له مېوو څخه خوراک ورکوي، او څوک چې مؤمن ته په تنده کې اوبه ورکړي، الله به هغه ته د جنت له پاکو او سرپټو شرابو (رحیق مختوم) څخه څښاک ورکوي.»

د روژتي افطارول هم یو ډول طعام ورکول دي. ابن عمر (رض) به هیڅکله افطار نه کاوه

ketabton.com - The Digital Library



مګر دا چې يتيمان او مسکينان به ورسره وو. احمد او نسايي روايت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «څوک چې يو روژتي ته افطار ورکړي، د هغه په څېر اجر به ولري، پرته له دې چې د روژتي له اجر څخه څه کم شي.»

* * *

يو له غوره طاعتونو څخه، له سهار لمانځه وروسته تر لمر ختلو پورې په جومات کې کښېناستل دي. امام مسلم روايت کړی چې رسول الله ﷺ به کله د سهار لمونځ وکړ، په خپله مصلّى به تر هغه ناست و چې لمر به راوخوت. همدارنګه په صحيح سند روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «څوک چې د سهار لمونځ په جومات کې په جماعت سره وکړي، بيا د لمر تر ختلو پورې د الله په ذکر بوخت شي، او بيا دوه رکعته (اشراق) لمونځ وکړي، هغه لره د يو پوره، حج او عمرې اجر دی.» دا فضيلت په ټول کال کې شته، نو په رمضان کې خو بيخي زيات دی!

* * *

په رمضان کې بل غوره عمل «عمره» ده. په صحيحينو کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «په رمضان کې يوه عمره له يو حج سره برابره ده» او په بل روايت کې: «زما سره د يو ځای حج کولو ثواب لري.»

* * *

يو بل غوره عبادت «اعتکاف» دی. هغه عبادت چې بنده پکې له خپل رب سره يوازې کيږي... په خاشعانه توګه ورسره راز او نياز کوي او په عاجزۍ خپلو ګناهونو ته اعتراف کوي... او دنيا تر شا پرېږدي. دا هغه عبادت دی چې رسول الله ﷺ پرې ټول عمر پابند و. اعتکاف يعنې په جومات کې پاتې کېدل او له هغه نه وتل، د الله تعالى د نږدېوالي په نيت. په دې حالت کې سړی له جوماته نه وځي مګر د سختې اړتيا په وخت کې، که نه نو اعتکاف يې باطلېږي. رسول الله ﷺ به هره روژه لس ورځې اعتکاف کاوه، خو د ژوند په وروستي کال يې شل ورځې اعتکاف وکړ.

هغه اعتکاف چې شرع يې غواړي، هغه نه دی چې جوماتونه د خوب په ځايونو، يا د خندا او بنډار په مجلسونو بدل شي. داسې اعتکاف يوازې د زړه د سختۍ لامل کيږي. مطلوب

ketabton.com - The Digital Library



اعتكاف هغه دى چې پكې د خاشعانو له ستركو اوښكې رواني وي او د عاجزانو لاسونه اسمان ته لپه وي؛ داسې اعتكاف چې انسان خپله ټوله هڅه پكې وكړي او يوه شېبه يې هم له طاعت پرته ضايع نه كړي.

معتكف — او په عمومي ډول هر روژتي — ته ښايي چې ژبه يې تل د الله په ذكر لنده وي. ځكه رسول الله ﷺ فرمايي: «ايا تاسو له خپلو غوره اعمالو او ستاسو د مالک (الله) په نزد له تر ټولو پاكو كارونو خبر نه كړم؟ هغه څه چې ستاسو درجات لوړوي او ستاسو لپاره د سرو او سپينو زرو له صدقه كولو غوره دي...؟» صحابه كرامو وويل: هغه څه دي يا رسول الله؟ ويې فرمايل: «د الله عزوجل ذكر.»

علامه ابن رجب په «لطائف المعارف» كې ليكي چې ابوهريره (رض) به په شپه او ورځ كې له دولس زره ځلو څخه زيات تسبيح ويله... د دې سبب ترې وپوښتل شو؛ ويې ويل: «په دې سره خپل ځان له اوره ازادوم.»

* * *

له حاكم څخه روايت دى چې يو اعرابي (ښېديا مېشتي) وويل: اى د الله رسوله! د اسلام احسانات (نېكۍ) پر ما ډېرې شوې... ماته داسې څه ووايه چې منګولې ورته واچوم. ويې فرمايل: «تل دې ژبه د الله په ذكر لنده ساته.»

او الله تعالى فرمايي: ﴿وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ...﴾ [الأحزاب: ٣٥] «...او هغه نارينه او ښځې چې الله ډېر يادوي؛ الله د هغوى لپاره ښښنه او لوى اجر تيار كړى دى.»

نو روژتي ته ښايي چې تل په اذكارو بوخت وي. د چا روژه، اعتكاف او قيام چې داسې وي، هيله ده چې په دې لويه مياشت كې د الله په فضل ستر خير ترلاسه كړي. تر ټولو غوره ذكر د قرآن تلاوت دى، ځكه د هر توري په بدل كې يې لس نېكۍ دي. شک نشته چې د رمضان په وروستۍ لسيزه كې يوازې پر يو ځل ختم بسنه كول په حقيقت كې لويه سستي او كمكاري ده.

همدارنګه روژتي ته ښايي چې مطلق او مقيد نفلونه [١] ډېر ادا كړي؛ لكه راتبه سنتونه، د څاښت (ضحى) لمونځ او نور لمونځونه...

امام مسلم روايت كړى چې رسول الله ﷺ ثوبان (رض) ته وفرمايل: «د الله لپاره ډېرې

ketabton.com - The Digital Library



سجدې کوه، ځکه ته چې کله هم د الله لپاره یوه سجده کوې، الله تعالی ستا درجه یو مقام لوړوي او یوه ګناه درڅخه پاکوي.»
همدارنګه امام مسلم له ربیعه بن کعب (رض) څخه روایت کوي چې ویې ویل: ما به شپه له رسول الله ﷺ سره تېروله او د هغه د اودس اوبه او نورې اړتیاوې به مې ورته برابرولې... نو ماته یې وفرمایل: «له ما څه وغواړه.» ما وویل: په جنت کې ستا ملګرتیا غواړم. ویې وفرمایل: «بل څه نه غواړې؟» ما وویل: بس همدا غواړم. ویې وفرمایل: «نو د ډېرو سجدو په کولو سره زما سره مرسته وکړه (ترڅو دې هدف ته ورسېږې).»
اعتکاف او لمونځ خورا لوی فضل لري...
امام مسلم روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «د یو سړي په جماعت سره لمونځ، په کور او دکان کې له لمانځه څخه پنځه ویشت درجې غوره دی... او دا په دې خاطر چې که هغه په ښه توګه اودس وکړي او بیا یوازې د لمانځه په نیت (له کوره) وځي، هر ګام چې پورته کوي، په هغه سره یې یوه درجه لوړېږي او یوه ګناه یې ښنل کېږي... او کله چې لمونځ وکړي، تر هغه وخته چې په خپله مصلّی ناست وي، ملایکې پرې درود وایي چې: اې الله! پر ده رحمت وکړه... اې الله! پر ده رحم وکړه... او تر هغه وخته چې د لمانځه په انتظار وي، په لمانځه کې ورته حسابېږي.»
که لمانځه ته تلل او د هغه انتظار د انسان ارزښت او درجې دومره لوړوي، نو د هغو کسانو په اړه به څه وایو چې په جومات کې څو ورځې د اعتکاف لپاره پاتې کېږي او یو په بل پسې د لمانځه انتظار کوي؟
امام زُهري وایي: «د مسلمانانو کار ته حیران یم! اعتکاف یې پرېښی، په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ چې کله مدینې ته راغی تر وفاته پورې یې پرېنښود.»
هر څوک چې نیت لري د رمضان په وروستیو لسو شپو کې اعتکاف وکړي، هغه باید د رمضان د شلمې روژې تر لمر لوېدو وړاندې جومات ته ننوځي او د اختر د شپې تر لمر لوېدو وروسته ترې راوځي.
او څوک چې په وروستیو لسو شپو کې ډېره هڅه وکړي، هیله ده چې «لیلة القدر» (د قدر شپه) ومومي. د قدر شپه د رمضان تر ټولو لویه شپه ده چې تر زر میاشتو غوره ده. په

ketabton.com - The Digital Library



صحیحینو کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک چې د قدر شپه د ایمان او ثواب په نیت په عبادت تېره کړي، تېر ګناهونه یې ښنل کیږي.»
رسول الله ﷺ به د قدر شپه لټوله او خپلو اصحابو ته یې هم امر کاوه چې ویې لټوي او په وروستۍ لسیزه کې به یې خپله کورنۍ له خوبه راویښوله ترڅو دا شپه ترلاسه کړي.
په صحیح حدیث کې له ام المؤمنین عایشې (رض) څخه روایت دی چې له رسول الله ﷺ څخه یې وپوښتل: ای د الله رسوله! که مې د قدر شپه ومونده نو څه ووایم؟ ویې وفرمایل: «ووایه: اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي (اې الله! ته ښونکی یې او ښنه خوښوې، نو ما وبښه).»

*   *   *

اې روژتیانو! مور د داسې رب عبادت کوو چې ډېر کریم دی او ښنه خوښوي... رحمت یې پر غصې مخکې دی او ښنه یې تر عذاب وړاندې ده. خوښوي یې چې بندګان یې که ګناه وکړي، ژر بېرته هغه ته ور وګرځي؛ ځکه توبه د متقیانو نښه او د صالحانو عادت دی. امام مسلم روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «ای خلکو! الله ته توبه وباسئ، ځکه زه په ورځ کې سل ځله هغه ته توبه کوم.»
الله تعالی د رمضان په شپو کې ځینې کسان له دوزخه ازادوي؛ نو هڅه وکړه چې له هغو څخه وې!
رمضان د هغو کسانو لپاره یو چانس دی چې په لمانځه کې یې سستي کړې ده... ځکه د انسان او کفر یا شرک ترمنځ فاصله یوازې د لمانځه پرېښودل دي.
رمضان د هغو کسانو لپاره یو چانس دی چې په نشو اخته دي، ترڅو توبه وکړي.
رمضان د هغو کسانو لپاره یو چانس دی چې خپلوۍ (صله رحم) یې پرې کړې دي؛ ځکه د خپلوۍ پرې کوونکی جنت ته نه ننوځي. الله تعالی په نولسو ایتونو کې د صله رحم حکم کړی او په دریو ایتونو کې یې د هغې پرې کوونکي لعنت کړي دي. نو که د چا ترمنځ کینه او خپګان وي، باید ژر یې اصلاح کړي؛ اوس چې مو نسونه له خوړو روژه دي، باید زړونه مو هم له کینې او نفرت څخه روژه شي.
هو، رمضان یو فرصت دی د هغو کسانو لپاره چې په حرامو تجارت کوي؛ سګرټ، لوڅې

ketabton.com - The Digital Library



مجلې، قليان، سندرې او نامناسب کالي پلورې... دا وخت دی چې له خپل کاره لاس واخلي، توبه وکړي او پوه شي چې الله پر هر واړه شي حساب اخلي. هر هغه بدن چې په حرامو ستر شي، د اور ډېر لايق دی. د قيامت په ورځ به د بنده قدمونه له ځايه ونه ښوري ترڅو ترې وپوښتل شي چې مال يې له کومه کړی او په څه کې يې مصرف کړی دی.

* * *

رمضان زموږ ټولو لپاره يو چانس دی چې له هغو گناهونو توبه وکړو چې کېدای شي تر قبره پورې زموږ سره ملگري وي... هو! داسې گناهونه چې زموږ سره قبر ته ننوځي... موږ مړه کېږو خو گناهونه مو ژوندي پاتې کېږي او زموږ د اعمالو پاڼې ډکوي. زما مطلب د هغو کسانو گناهونه دي چې حرام محصولات خپروي، يا د گناهکارانو د راټولېدو ځايونه جوړوي، يا د فحاشۍ، شرابو او نشه يي توکو کاروبار کوي. هر څوک چې د گناه په خپرولو کې مرسته وکړي، هغه په گناه کې شريک دی او څوک چې د بې لارۍ لور ته بلنه ورکړي، د هغو ټولو کسانو گناه چې تر قيامته دا کار کوي، د ده په غاړه ده. ابو حامد غزالي وايي: «خوښي په حال د هغه چا چې کله مړ شي گناهونه يې هم ورسره مړه شي... او افسوس پر هغه چا چې مړ شي خو گناهونه يې سل يا دوه سوه کاله، يا ډېر، پاتې وي... په قبر کې پرې عذابېږي او تر هغو چې دا گناه پاتې وي، پوښتنه ترې کېږي.»

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَنَكۡتُبُ مَا قَدَّمُواْ وَءَاثَٰرَهُمۡ...﴾ [يس: ١٢].

«بېشکه موږ مړي ژوندي کوو او هغه څه ليکو چې هغوی له وړاندې لېږلي او هغه څه چې (د نښو او اثارو په ډول) ترې پاتې دي...»

يعني هغه څه چې د عملونو د اثارو په ډول ترې پاتې دي، هغه هم د پخوانيو عملونو په څېر ثبتوو.

[١] نافله مطلق هغه نفلونه دي چې ځانگړی وخت يا سبب نه لري، او مقيد نفلونه لکه سنت راتبه، د څاښت لمونځ او داسې نور.

خو د الله له رحمت څخه مه ناهيلی کېږه، ځکه د هغه د رحمت دروازې تل پرانيستې دي...

ketabton.com - The Digital Library



له هغو کسانو څخه شه چې [په دې میاشت کې] ورته د جنت دروازې پرانیستل کېږي او د دوزخ دروازې تړل کېږي... له هغو کسانو څخه شه چې رمضان ترې په داسې حال کې رخصتېږي چې ګناهونه یې ښنل شوي او تېروتنې یې رژېدلې وي... زموږ پیغمبر ﷺ فرمايي: «خوار او ذلیل دې شي... خوار او ذلیل دې شي... خوار او ذلیل دې شي... هغه څوک چې رمضان یې وموند خو ونه ښنل شو»...

* * *

اې روژتیانو، نارینه وو او ښځو!

تر ټولو مهم شی چې دا میاشت باید ورته غنیمت وګڼو، خلکو ته نصیحت کول او د الله لوري ته د هغوی بلل (دعوت) دي...

خلک اوس نېکۍ ته متوجه دي او ډېری یې له هغو ګناهونو لاس اخیستی چې په نورو میاشتو کې یې کولې... خو ایا موږ به له دې فرصت څخه ګټه واخلو؟ څومره ډېر ګناهکاران دي چې په دې میاشت کې یې توبه کړې ده... د یو داسې ایت په سبب چې اورېدلی یې دی او یا د یوې داسې موعظې په خاطر چې په زړه یې اغېز کړی... امام مسلم له رسول الله ﷺ څخه روایت کړی چې ویې فرمایل: «دا چې الله ستا په واسطه یو کس ته هدایت وکړي، دا ستا لپاره تر سرو اوښانو غوره ده»... او ترمذي روایت کړی چې پیغمبر ﷺ وفرمایل: «الله، د هغه ملایکې، د اسمانونو او ځمکې اوسېدونکي، ان مېږی په خپل غار کې او ماهیان په اوبو کې، پر هغه چا درود (رحمت) وایي چې خلکو ته نېکي ښیي».

کېدای شي یوه خبره چې دعوتګر یې په ژبه راوړي، د اورېدونکي د هدایت سبب شي... انسان کله د الله د رضا لپاره یوه خبره کوي او ډېر اهمیت نه ورکوي، خو الله تعالی د هماغې یوې خبرې په برکت تر هغې ورځې چې دی ورسره ملاقات کوي، له ده څخه راضي کېږي.

ابن قدامه په خپل کتاب «التوابین» کې د عبدالواحد بن زید له قوله لیکي: په کښتۍ کې سپور وم چې باد موږ یوې ټاپو ته یووړلو... هلته مو یو سړی ولید چې یو بت ته یې عبادت کاوه...

ورته مو وویل: اې سړیه! څه عبادت کوې؟ هغه بت ته اشاره وکړه... موږ وویل: زموږ په

ketabton.com - The Digital Library



کښتۍ کې داسې څوک شته چې د دې بت په څېر جوړولی شي... دا داسې خدای نه دی چې د عبادت وړ وي.
هغه وویل: نو تاسو د څه عبادت کوئ؟
موړ وویل: د الله...
ویې ویل: الله څه شی دی؟
موړ وویل: هغه ذات دی چې عرش یې په اسمان کې، قدرت یې په ځمکه کې او پرېکړه یې په ژوندو او مړو کې چلیږي...
ویې ویل: تاسو څنګه پرې خبر شوئ؟
موړ وویل: هغه پاچا موږ ته یو معزز استازی راواستاوه او هغه موږ خبر کړو...
ویې ویل: هغه استازي (پیغمبر) څه وکړل؟
موړ وویل: خپل رسالت یې سرته ورساوه او بیا الله تعالی هغه له دې نړۍ یووړ...
ویې ویل: ایا کومه نښه یې درته پرې نه ښوده؟
موړ وویل: ولې نه... د پاچا کتاب یې راته پرېښود...
ویې ویل: د پاچا کتاب ماته راوړئ... باید ډېر ښه کتاب وي...
موږ ورته مصحف (قرآن) راوړ... ویې ویل: زه په لوستلو یې نه پوهېږم... نو موږ ورته د قرآن یو سورت تلاوت کړ... موږ لوستل او هغه ژړل، تر دې چې سورت مو پای ته ورساوه...
ویې ویل: چا چې دا خبرې کړې دي، ښایي چې نافرماني یې ونه شي...
بیا یې اسلام قبول کړ، موږ په کښتۍ کې له ځان سره سپور کړ او د اسلام احکام او د قرآن څو سورتونه مو ورته وښودل...
روان شو، کله چې شپه شوه او موږ غوښتل ویده شو، هغه وپوښتل: اې خلکو! دا خدای چې تاسو زه ورته وبللم، ایا هغه د شپې ویده کیږي؟
موږ وویل: نه، اې د الله بنده... هغه لوی او قیوم ذات دی چې خوب نه ورځي...
هغه وویل: «تاسو څومره بد بندګان یئ! ویده کیږئ په داسې حال کې چې مولا مو نه ویده کیږي؟» بیا په عبادت بوخت شو او موږ یې پرېښودو...

ketabton.com - The Digital Library



کله چې خپل ښار ته ورسېدو، ملګرو ته مې وويل: دا نوی مسلمان دی او دلته غريب دی... ورته مو څو درهمه ټول کړل او هغه ته مو ورکړل.
ويې ويل: دا څه دي؟ موږ وويل: د خپلو اړتياوو لپاره يې ولګوه.
ويې ويل: لا اله الا الله! ما په دغو ټاپوګانو کې د الله پر ځای د يو بت عبادت کاوه، هغه زه ضايع نه کړم... ايا اوس چې مې هغه وپېژانده، ما به يوازې پرېږدي؟! بيا لاړ او د ځان لپاره يې کار پيل کړ... او وروسته له سترو صالحانو څخه شو.

*　　　*　　　*

په الله قسم، چې ځمکې او اسمان د رسول الله ﷺ په څېر بل پاک او غوره انسان نه دی ليدلی چې په هر حال، هر وخت او هر ځای کې د خلکو هدايت ته دومره لېواله وي... هغه په هر ځای کې خلک د الله لوري ته وبلل... مئين او مخالف، نېک او بد... هغه يوازې د قدرت خاوندانو ته نه کتل، بلکې ماشومانو، زړو او مريانو ته يې هم پام کاوه.
نو اې روژتيانو! ايا دا مياشت غنيمت ګڼو؟
اوس چې سوداګر د تجارت لپاره، او سندرغاړي او هنرمندان د خپلو موخو لپاره له دې مياشتې ګټه اخلي، ايا دا مناسبه نه ده چې موږ يې د خلکو د هدايت لپاره غنيمت وګڼو؟
په يوه موسکا، په يوه نېکه خبره، په يو پيغام، يا د يو کتابګوټي په ډالۍ کولو سره... هيله ده چې الله ستا د يو صادقانه دعوت په برکت زړونه درته پرانيزي.

*　　　*　　　*

په پای کې مناسبه ده چې د روژې په اړه څو مهمې مسئلې بيان کړم:
لومړۍ مسئله:
روژه يعني د سهار له سپېدو (طلوع فجر) څخه تر لمر لوېدو پورې له هغو شيانو ډډه کول چې روژه ماتوي. هر څوک چې په رمضان کې له شرعي عذر پرته روژه وخوري، ډېره لويه ګناه يې کړې ده. په صحيح حديث کې راغلي چې رسول الله ﷺ په خوب کې وليدل:
«...بيا يې بوتلم او داسې خلک مې وليدل چې په خپلو پښو ځړول شوي وو، ژامې يې څيرې وې او وينې ترې بهېدې... ومې ويل: دا څوک دي؟ ويې ويل: دا هغه کسان دي چې له وخت وړاندې يې روژه ماتوله.»

ketabton.com - The Digital Library



روژه پر هر بالغ، عاقل او مقیم مسلمان چې له موانعو (لکه حیض او نفاس) ښځه پاک وي، فرض ده. همدارنګه مستحب ده چې ماشومان هم روژې ته وهڅول شي. رُبيّع بنت معوذ (رض) وايي چې موږ به خپلو ماشومانو ته د پنبې نانځکې جوړولې او کله به چې هغوی د ډوډۍ لپاره ژړل، نانځکې به مو ورکولې ترڅو د افطار وخت شي.

پر لېوني روژه فرض نه ده، خو که کله لېونی او کله هوښیار وي، یوازې د هوښیارۍ په حالت کې پرې فرض ده. که د ورځې په منځ کې پر چا لېونتوب راشي، روژه يې نه باطلېږي، لکه هغه څوک چې د ناروغۍ له امله بېهوښه شي، روژه یې نه ماتېږي ځکه هغه په هوښیارۍ کې د روژې نیت کړی و.

د فرضې روژې لپاره دا شرط ده چې روژتی باید له مخکې نه د شپې نیت وکړي، ان که د سپېدو (فجر) نه یوه شېبه وړاندې هم وي... ابوداوود روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «هغه څوک چې له شپې نه د روژې نیت ونه کړي، روژه یې نه کېږي»...

خو د مطلق نفل روژې لپاره د شپې نیت کول شرط نه دي... ځکه امام مسلم له عایشې (رض) ښځه روایت کړی چې ویې ویل: یوه ورځ رسول الله ﷺ ماته راغی او ویې وفرمایل: «ایا ستاسو سره کوم خواړه شته؟» موږ وویل: نه. ویې وفرمایل: «نو زه روژه یم»...

خو د هغو مستحبو روژو لپاره چې وخت یې معلوم وي لکه د عرفې او عاشورا روژه، غوره دا ده چې له شپې نیت ولري ترڅو یې اجر پوره شي...

* * *

دویمه مسئله:

د ځینو روژو لپاره پرله پسې نیول شرط دي، لکه د رمضان روژه، د ناخاپي (خطایي) قتل کفاره، ظهار، او د رمضان په ورځ کې د کوروالي (جماع) کفاره... همدارنګه د هغه چا لپاره چې نذر یې کړی وي چې پرله پسې روژې به نیسي...

خو په ځینو نورو روژو کې پرله پسې والی شرط نه دی، لکه د رمضان قضا، د هغه چا لپاره لس ورځې روژه چې د حج قرباني (هدي) یې نه وي موندلې، د قسم کفاره، د احرام د ممنوعاتو فدیه، او د هغه مطلق نذر روژه چې نیت یې نه وي کړی چې پرله پسې به یې

نیسي...

* * *

مستحبې روژې لکه د عاشورا، عرفې، د دوشنبې او پنجشنبې روژې او نورې غیر واجبې روژې، د فرضي روژو نیمګړتیاوې پوره کوي... رسول الله ﷺ یوازې د جمعې په ورځ له روژې نیولو منع کړې ده، لکه څنګه چې په بخاري او نورو کې روایت دی... نو څکه هر څوک چې غواړي د جمعې په ورځ روژه ونیسي، باید یوه ورځ مخکې یا یوه ورځ وروسته ورسره هم روژه ونیسي...

همدارنګه د کوچني اختر او لوی اختر په ورځو او د «تشریق» په ورځو (یعنې د ذوالحجې یوولسمه، دولسمه او دیارلسمه) روژه نیول حرام دي؛ مګر د هغه چا لپاره چې په حج کې یې قرباني نه وي موندلې، هغه په «منیٰ» کې دا ورځې روژه نیولی شي... دریمه مسئله:

مسافر ته اجازه ده چې روژه ونه نیسي، که یې د نیولو توان لري او که یې نه لري، که روژه پرې سخته وي او که نه وي... البته دا حکم هغه وخت دی چې په پوره ډول له ښاره بهر ووځي...

که مسافر په داسې حال کې چې روژه یې نه وي، د ورځې په منځ کې خپل ښار ته ورسېږي، د دې ورځې د پاتې برخې په امساک (نه خوړلو) کې د علماوو ترمنځ اختلاف دی، خو احتیاط ته نږدې خبره دا ده چې د رمضان د میاشتې د درناوي لپاره د ورځې پاتې برخه له خوراک او څښاک ډډه وکړي...

* * *

هر څوک چې په داسې ناروغی اخته وي چې روژه ورته ستونزمنه وي، کولی شي روژه ونه نیسي... خو یوازې د ستړیا یا د ناروغۍ د وېرې له امله روژه خوړل جایز نه دي... همدارنګه د ازموینو (امتحانونو) په پلمه په روژه کې سستي او د هغې خوړل روا نه دي... هغه ناروغ چې د روغېدو هیله یې شته، انتظار کوي ترڅو روغ شي او بیا خپله قضا راوړي...

خو که څوک په داسې مزمنه (دوامداره) ناروغۍ اخته وي چې د روغتیا هیله یې نه کېږي،

ketabton.com - The Digital Library



او همدارنګه ډېر سپین ږیری او کمزوری سړی، د هرې ورځې په بدل کې یو مسکین ته ډوډۍ ورکوي... همدارنګه دا هم جایز ده چې د میاشتې په پای کې دیرشو مسکینانو ته یوځای ډوډۍ ورکړي، او یا هره ورځ یو مسکین ته ډوډۍ ورکړي... خو که یو څوک ناروغ شي، بیا روغ شي او د قضا راوړلو توان ولري، مګر د سستۍ له امله قضا را نه وړي تر دې چې وفات شي، د هغه یو نږدې کس (ولي) یې پر ځای روژه نیسي؛ ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: «هر څوک چې مړ شي او د (فرض) روژې پور پرې پاتې وي، ولي دې د هغه له لوري روژه ونیسي»... یا یې له مال څخه د هرې ورځې په بدل کې یو مسکین ته طعام ورکول کیږي...

هغه سپین ږیري او زاړه کسان چې عقل یې روغ وي خو د روژې نیولو توان نه لري، د هرې ورځې په بدل کې یو مسکین ته طعام ورکوي... خو هغه څوک چې د زړښت له امله یې عقل له لاسه ورکړی وي، نه پرې روژه فرض ده او نه فدیه (طعام ورکول)؛ او که کله هوښیار او کله بې عقل وي، نو د هوښیارۍ په وخت کې دې روژه ونیسي او د بې عقلۍ په وخت کې پرې روژه نشته.

خلورمه مسئله:

د سپېدو په راختلو (طلوع فجر) سره پر روژتي واجبه ده چې سمدستي له خوراک او څښاک څخه لاس واخلي. خو له اذان څخه لس دقیقې یا کم او زیات وخت مخکې د «احتیاط» په نوم له خوراکه ډډه کول بدعت دی؛ یوازې دا لازمه ده چې د اذان په وخت کې له خوراک او څښاک څخه لاس واخیستل شي.

روژتی د لمر په ډوبېدو سره افطار کوي او سنت دا دي چې په افطار کې بیړه وکړي، یعنې د وخت په داخلېدو سره سمدستي روژه ماته کړي. په «مستدرک حاکم» کې په صحیح سند روایت شوی چې رسول الله ﷺ به د ماښام لمونځ نه کاوه مګر وروسته له هغه چې افطار به یې وکړ، که څه هم یوازې په اوبو سره وي. او که روژتي د افطار لپاره څه ونه موندل، نو په زړه کې دې د افطار نیت وکړي.

* * *

هر هغه څوک چې د کوم عذر له امله یې په رمضان کې روژه نه وه نیولې او عذر یې

ketabton.com - The Digital Library



ښکاره و (لکه هغه ناروغ چې هر څوک يې په ليدو پوهيږي چې دی ناروغ دی)، نو باک نه لري چې په ښکاره يې وخوري او وڅښي. خو که د چا عذر ښکاره نه و، غوره دا ده چې په ښکاره څه ونه خوري ترڅو د روژه خوړلو تور پرې پورې نه شي.

* * *

پنځمه مسئله:

د روژې ماتوونکي (مبطلات) اووه شيان دي:

لومړی: خوراک او څښاک.

ځيني کارونه هم د خوراک او څښاک په مانا کې راځي، لکه هغه درمل چې د خولې له لارې بدن ته ننوځي او همدارنګه هغه پياوړي کوونکي (مغذي) پيچکاري چې په وينه کې لګول کيږي.

خو هغه پيچکاري چې د خوراک او څښاک ځای نه نيسي او يوازې د علاج لپاره وي (لکه پنسلين، انسولين او واکسينونه)، روژې ته زيان نه رسوي، که په غوښه کې وي او که په رګ کې؛ که څه هم غوره دا ده چې د شپې له خوا وکارول شي.

د پښتورګو مينځل (د وينې تصفيه/ډياليز) چې له بدن څخه د وينې وتلو، پاکولو او بيا د قند او مالګې په څېر د کيمياوي او غذايي موادو له زياتولو وروسته بېرته بدن ته ننوتلو ته اړتيا لري، روژه ماتوي؛ لکه څنګه چې د فتوا د دايمي کميسيون په فتواوو کې راغلي دي.

د سترګو او غوږو څاڅکي (قطرې)، د غاښ ويستل او د ټپ درملنه روژه نه ماتوي.

همدارنګه د سالنډۍ (آسما) سپرې او مسواک وهل که چېرې کوم شی ترې [په قصدي ډول] تېر نه شي، روژه نه باطلوي. په همدې ډول هر هغه څه چې د پوټکي د جذب له لارې بدن ته ننوځي لکه تېل، رنګونه او کريمونه، روژه نه ماتوي.

کله چې روژتي په هېره (فراموشۍ) سره څه وخوړل يا يې وڅښل، خپله روژه دې پوره کړي؛ ځکه په حقيقت کې الله تعالی هغه ته خوراک او څښاک ورکړی دی، نه يې قضا شته او نه کفاره. خو چا چې وليد، بايد ورته ياده يې کړي، ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰ﴾ «او په نېکۍ او تقوا کې له يو بل سره مرسته وکړئ.» او د رسول الله ﷺ دا وينا چې: «کله چې مې (څه) هېر کړل، ما ته يې رایاد کړئ.»

ketabton.com - The Digital Library



که څوک د يو بې ګناه انسان د ژوند ژغورلو لپاره روژه خوړلو ته اړ شي (لکه په اوبو کې د ډوب شوي کس ژغورل يا اور وژنه)، روژه دې وخوري او وروسته دې قضا راوړي.
دويم: جماع (کوروالی) يا د شهوت له امله د مني ويستل.
هر څوک چې روژه پرې فرض وي او په قصدي ډول د رمضان په ورځ کې جماع وکړي، روژه يې باطلېږي، توبه دې وباسي، د ورځې پاتې برخه دې له خوراکه ډډه وکړي او هم يې قضا راوړي او هم «مغلظه کفاره»

نوټ: دا حکم د مېرمنې سره د جماع، زنا، او له همجنس يا حيواناتو سره د جنسي نږدېوالي لپاره يو شان دی. د فتوا د دايمي کميسيون د فتوا له مخې، که چا په څو بېلابېلو ورځو کې دا کار کړی وي، نو د ورځو په شمېر دې کفاره ورکړي.

که څوک د سهار په وخت کې جُنُب وي، روژې ته يې زيان نه رسېږي او جايز ده چې د جنابت، حيض او نفاس غسل د لمر تر راختلو پورې وځنډوي، خو بايد ژر يې وکړي ترڅو د سهار لمونځ يې قضا نه شي. چا ته چې په خوب کې احتلام (شيطان خطا ايستل) وشي، روژه يې سمه ده؛ خو که چا په خپل لاس مني ويستلې وي (موټک وهل)، روژه يې باطلېږي.
دريم: په قصدي ډول کانګې (ګرځول/استفراغ) کول.
که چا په قصدي ډول کانګې وکړې (مثلاً خپله ګوته ستوني ته ننه باسي يا خېټه زوروي)، روژه يې باطلېږي او قضا يې پرې شته؛ خو که بې اختياره ورځخه وشي، روژه يې سمه ده. هغه بلغم (لکه/خبېټ) چې په ستوني کې وي که تېر شي باک نه لري، خو که خولې ته راشي او بيا يې تېر کړي، روژه باطلوي.
نوټ: مغلظه کفاره عبارت ده له: د يو مريي ازادول، که نه وي نو دوه مياشتې پرله پسې روژې نيول، او که يې توان نه درلود نو شپېته مسکينانو ته ډوډۍ ورکول.

څلورمه مسئله:
د روژې څلورم ماتوونکی حجامت (وينه ايستل) دی... په روژه کې د ډېرې وينې ورکول، لکه د وينې اهدا، هم د حجامت په حکم کې راځي؛ خو د معاينې (ټيسټ) لپاره د لږې وينې اخيستل باک نه لري.

ketabton.com - The Digital Library



خو که وینه په ناڅاپي ډول له بدنه ووځي، لکه پزه خوېدل یا د ټپ له امله وینه بهېدل ـــ که څه هم ډېره وي ـــ روژې ته زیان نه رسوي.

* * *

پنځمه مسئله:

د روژې پنځم ماتوونکی حیض او نفاس [۱] دی... حیض هغه وینه ده چې په عادي ډول له ښځو څخه ځي.

هغه ښځه چې په حیض یا نفاس اخته وي، که یې د شپې له خوا وینه ودرېږي او د روژې نیت وکړي، بیا د سهار لمانځه وخت داخل شي او لا یې غسل نه وي کړی، روژه یې سمه ده.

غوره دا ده چې ښځې د حیض د مخنیوي درمل ونه کاروي، خو که کومې ښځې داسې درمل وکارول، وینه یې ودرېده او روژه یې ونیوله، روژه یې صحیح ده.
هغه ښځه چې په نفاس کې وي، که تر څلوېښتو ورځو مخکې پاکه شوه، روژه دې ونیسي او د لمانځه لپاره دې غسل وکړي.

* * *

امیندواره (حامله) او شیدې ورکوونکې ښځه د ناروغ په حکم کې ده؛ هغې ته جایز ده چې روژه ونه نیسي او یوازې قضا یې پرې لازم ده، که د خپل ځان او ماشوم لپاره له زیان څخه وېرېږي او که نه وېرېږي.
رسول الله ﷺ فرمایي: «بېشکه الله تعالی له مسافر څخه روژه او نیم لمونځ، او له حامله او شیدې ورکوونکې ښځې څخه روژه پورته کړې ده».

* * *

دا ټول یاد شوي ماتوونکي (مبطلات) یوازې په هغه صورت کې روژه باطلوي چې:
۱. روژتی پرې عالم وي، نه جاهل.
۲. د هېرې (فراموشۍ) له امله یې نه وي کړی.
۳. د مجبورۍ او اکراه له امله یې نه وي کړی.
مسواک وهل د ورځې په اوږدو کې د روژتي لپاره سنت دي... همدارنګه د عطر بویول او

ketabton.com - The Digital Library



کارول باک نه لري. بخور (دود) هم د روژتي لپاره ستونزه نه لري په هغه صورت کې چې په مستقیم ډول يې ستوني ته کش نه کړي.

* * *

وروستۍ مسئله (د روژې ځيني آداب):

د پیشلمي (سحري) خوړلو هڅه کول او تر ممکنه حده يې ځنډول... په بخاري کې روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «پیشلمی کوئ، ځکه په پیشلمي کې برکت دی».

او همدارنګه په روژه ماتي (افطار) کې بيړه کول... په بخاري کې راغلي: «خلک به تر هغې په خير کې وي، تر څو چې په افطار کې بيړه کوي».

رسول الله ﷺ به د ماښام له لمانځه وړاندې په څو لمدو خرماوو (رُطب) روژه ماتوله، که رُطب نه وو نو په وچو خرماوو او که خرما نه وه نو څو غوړپه اوبه به يې وڅښلي.

سنت دا دي چې روژتی تر روژه ماتي وروسته دا دعا ووايي: «ذَهَب الظَّمّأُ وَابْتَلَّتِ العُروقُ وَثَبَتَ الأَجرُ إن شاءَ اللهُ» يعني: «تنده لاړه، رګونه لوند شول او که الله غوښتي وي، اجر ثابت شو».

* * *

له الله متعال څخه غواړم چې موږ ټولو ته د رمضان د روژې او د هغه د قيام (عبادت) توفيق د ايمان او ثواب په نيت راکړي... او موږ له هغو کسانو وګرځوي چې روژه يې قبوله او ګناهونه يې ښنل شوي وي... او پر موږ د دوزخ له اوره د ازادۍ او جنت ته د داخليدو احسان وکړي.

له هغه (ذات) څخه غوښتنه کوم چې موږ، زموږ پلرونه، ميندې او ټول مسلمانان په خپله مغفرت کې شامل کړي.

الله متعال تر هر چا معزز، لوی او پوه دی. د الله تعالی درود او سلام دې وي زموږ پر پيغمبر محمد ﷺ او د هغه پر کورنۍ او اصحابو.

نوټ: نفاس هغه وينه ده چې تر ماشوم زيږېدو وروسته تر يوې مودې پورې له ښځو څخه ځي.

ketabton.com - The Digital Library

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*